که غواړئ د سولې او پخلاینې دړه
بېرته اوسي، اوربند تینګ کړئ

# اوربند

دور دوهم، شماره یازدهم، ۱/ قوس/ ۱۳۹۷

# ORBAND

CEASEFIRE BIWEEKLY

11th, Issue, November 2018



منحیث نوماند نه، د لوبغاړي په
توګه میدان کې یم

«حضرت عمر زاخېلوال»

## پدې ګڼه کې...

- د ویښې خوب: کودتا! (به باد آمد، به باد رفت)
- شاه ګله، دا دې لا بله؟؟؟
- د ارګ ټپوسان
- د ننګرهار والي ښنګه روان دی؟؟؟
- جنګ دې ورک شي، رنګ دې ورک شي!
- جانان مې قطر ته روان دی
- سر خورده و سر افګنده
- له مېرمنې سره مو د معاشرات آداب زده کړئ
- د ژوند ورې لارښوونې
- پناه غوښتونکي دې نه شړل کېږي
- نه به وئ خبر...؟!
- د تجارت ګټه

**کډوالي نېکمرغي نده، بدمرغي ده...**
**خپل وطن یوازې خپله هدیره مه ټاکئ،**
**ژوند پکې وکړئ، درونډ ژوند پکې وکړئ...**
**جانانه خپل وطن کې اوسه**
**پردی وطن د مېړو قدر کموینه**



ioglobal

Internet Services Through Fiber Optic
Wireless Communication Solutions
Wired and Wireless Backbone Solutions
Data Center Engineering and Design
IT Infrastructure Solutions
Security Solutions
Storage Solutions
High-Availability Solutions
Software Solutions and Software Systems
Web-based Information Solutions

House No. 1151, Mayor›s Street on Sherpur Main Road, Kabul | Afghanistan
+93 (0) 20 22 131 21 - 4 | info@io--global.com | www.io--global.com | io-global

ORZALA NATURALS اورژلا طبیعی
افغانی، طبیعی، ګیاهی



Between Street 1 & 2, Taimani Main Road, Kabul, Afghanistan
Kart-e-4, Next to Allama Higher Education Institute | 0799143113
تایمني سابقه، د لومړي او دویم سړک تر منځ، کابل، افغانستان
کارته چهار، د حوزې سړک، د علامه لوړو زده کړو موسسې تر څنګ





ایم تي این مخابراتي شرکت ته مخامخ کوڅه، شهر نو- کابل/ 0202214172

چاپخی: اسد دانش مطبعه- کابل/ ۰۷۰۰۳۴۲۹۲۹۸

# اوربند

پښتنلس ورځنی

رَبِّ اجْعَلْ هَذَا بَـلَداً آمِناً

دور دوهم، شمارهٔ یازدهم، ۱/ قوس/ ۱۳۹۷


## نیولیک


د وېښې خوب: کودتا!/ ۲
د تجارت ګټه...؟/ ۳
سر خورده و سر افګنده/ ۴
شاه ګله، دا دې لا بله؟؟؟/ ۵
جنګ دې ورک شي، رنګ دې ورک شي.../ ۶
منحیث نوماند نه، د لوبغاړي په توګه میدان کې یم/ ۷
جانان مې قطر ته روان دی/ ۱۱
له مېرمنې سره مو د معاشرات آداب زده کړئ/ ۱۳
د ژوند ورې لارښوونې/ ۱۳
د ارګ ټپوسان/ ۱۴
د ننګرهار والي خنکه روان دی؟؟؟/ ۱۵
پناه غوښتونکي دې نه شړل کېږي/ ۱۶
نه به وئ خبر...؟!/ ۱۶
سېمسونګ: کارکوونکي مو په سرطان اخته شوي/ ۱۶


بسم الله الرحمن الرحیم

## سرلیکنه

### اوربند، د سولې زېرې

سوله او روغه جوړه شرط نه لري ـ یوه خوا هم د شرط وړاندې کولو دریځ نشي نیولی.
سوله د منځګړیو یا مرکچیانو له رښتینو هلو ځلو سره پیلي ـ د جګړې مخنیوی د روغې جوړې په پار د توی وړي واک پر مټ تحقق موندلی شي.
طالبان که له امریکا سره ګوري، که له افغان حکومت سره مخامخ خبرو ته کېني، دریمګړی یا منځګړی په کې ښایي افغان وي.
دا یو چانس دی چې خلیل زاد د امریکا او افغان حکومت دواړو د استازیتوب جوګه دی، که ملګري ملتونه یې له خپله اړخه استازی وپېژني، د ده نقش او هلې ځلې د نړیوال ضمانت ځواکمنه تکیه ترلاسه کولای شي. دغه چانس ملګرو ملتو ته هغه فرصت دی چې د افغانستان په اړه خپلې پخوانۍ تېروتنې او تېر ایستنې تصحیح کولی شي.
د دغسې یوه شخصیت رول د سولې تحقیق او دوام ته لار برابروي، ذیدخله اړخونه رغنده بحثونو ته په چمتو کولو د اواري ژوندنۍ اړتیا ته په راماتولو د سولې د داعیې منطقي انجام ته یو لاس کولی شي.
سوله یو شرط لري ـ دغه شرط د کشالې د دواړو غاړو نه بلکې د مرکچي یا منځګړی دی او هغه اوربند دی.
که اوربند ټینګ شو، پوه شه چې رښتینې سولې ته مخه پرانیستل شوه.
په اوربند هوکړه او سلا د سولې زیرې او د پخلاینې منزل ته غځېدلې نیغه لار ده، د ورځو، اوونیو اوربند نه، دایمي اوربند، حقیقي اوربند، نمایشي او تکتیکي هغه نه.
د اوربند لغوي او اصطلاحي مانا دا ده چې دواړه غاړې پخپلو موقعیتونو له پاتېدو د خپلو ټوپکو خولې ټیټې ساتي او پر یو بل له نویو بریدونو لاس نیسي.
د ارزونې یو ناپېیلي پلاوی به د اوربند څار او د سرغړونو ارزونه پر غاړه لري او که شونې وه د دواړو غاړو ترمنځ حایل او سوله ساتي ځواک ځای پر ځای کړي.
سوله ساتی لښکر به د جګړې مخه نیسي، د څار پلاوی به منځګړو او مرکچیانو ته د رپوټ په ورکولو اړوي او منځګړي، مرکچیان متخلف ته د پړې ګوته نیسي، جرګه او مرکچیان به د ربړې د بیخپوره اواري لارې چارې لټوي.
د سولې خبرې، د روغې جوړې مذاکرات، د پوهاوي چاپېریال چې د هر چا لخوا رامنځ ته شوی، هیلې یې غوړولې، زمولیدلی، امیدونه یې تاند کړي دي.
له دې سره د اوربند غږ هم غبرګ شوی، د دړبندۍ غوښتنه هم رادبره شوې ده، ځکه خو اوربند د ټولو غږ او ستره هیله ګرځېدلې، د دغه هیلې ریژدن او غوړېدا زموږ تاسې ټولو ملي او دیني دنده او مکلفیت دی.

## اوربند

د تلپاتې سولې لومړی ګام
اوربند؛ د ملي جرګې یواځینی شرط دی
اوربند؛ د روغې جوړې پیلامه ده
اوربند؛ د جګړې مخنیوی دی
اوربند؛ ملي غوښتنه ده
اوربند؛ د هر افغان غږ دی
اوربند؛ د هرې مور هیله ده
اوربند؛ ملي اړتیا ده
اوربند؛ ټیکاو دی
اوربند؛ د سوکالی لوری دی
اوربند؛ د بسیاینې لار ده
اوربند؛ د پرمختګ اساس دی
اوربند؛ ژوند دی
اوربند؛ له مرګ سره مبارزه ده
اوربند؛ د بربادۍ مخنیوی دی
اوربند ټینګ کړئ، له اوربند سره کېنئ، پر اوربند راټول شئ.

## دویم خپرنیز پړاو

درنو لوستونکیو!
دادی اوربند ستاسې د غوښتنې او ټینګار پر مټ دویم خپرنیز یون پیل کړ، پدې هیله چې خپله لیکنې مرسته راځخه ونه سپموئ... اوربند ستاسې دی، ستاسې لپاره خپرېږي او ستاسې نظرونه او وړاندیزونه له نورو سره پکې شریکېږي...


امتیاز
افغانستان
چلوونکي
افغانان
خپرندوی
دانش خپرندویه ټولنه

اړیکي
۰۷۰۰۶۳۹۳۸۳ - ۰۷۸۸۰۴۲۸۲۱

برېښلیک
spinsahaar@gmail.com

بیه
۲۰ ؋



# د ویښې خوب: کودتا!

## به باد آمد، به باد رفت

د راز خبري

**وایي مکه په پوښتنه پیدا کېږي، منډه، منډه پوښتنه، پوښتنه آخر مې درک ولګاوه، یوه سمخه مې ومونده، ورکوز شوم، تپه تیاره وه، د موبایل څراغ مې ولګاوه، تلم، تلم چې پر یوه کلا وربرابر شوم، ما ویل که د ققفاز غرونه دي، کوه قاف ته ورسېدم، د کلا وسپنیزې لویې دروازې تم کړم، ګرز شو دړه بېرته شوه، له دروازې مې پښه واړوله، یو تور حبش مې مخې ته راغی، د نامه پوښتنه یې وکړه، ما خپل نوم وروښود. ویل ایکس پریزېډنټ همدا اوس یاد کړي، زړه مې باغ باغ شو، تور حبش تر مخ، زه ورپسې، ولسمشر ته یې ودرولم، د ده خوله له خندا ډکه وه، خورا خوشحاله و، له هغې زیات خوشحاله چې په ارګ کې مې لیده، د انګورو ډک غوری ورته ایښی و، اسقلاني ختکي ورته پراته ول...**

ولسمشر له واکه لېرې شوی، دا چې څنګه لېرې شوی، معلومه نه ده. څوک وایي، کودتا شوې، زنځیر او زولانه یې له ارګه اېستلی، څوک وایي، امریکا تورو اوبو ته لېږدولی، د ګوانتنامو خبره هم کېږي، څوک وایي، نه! په درنښت یې له ارګه اېستلی نه زنځیر شته، نه زولانه، ښه په عزت یې کېنولی. اوس هم خدمتګاران ورته ولاړ دي... منصبدار ورته سلامي وهي. یوه پکې را ودنګل کودتا نه ده، د مؤقت حکومت لپاره یې له حرمسرای څخه کوتي باغچې ته کړی. اوف خدایه! کوتي باغچه خو ډېره خطرناکه ده - دی باید له هغې را وباسو... سید افسر راته وایي، له واکه لېرې کول، ګوښه کېدل، برطرفي، تبدیلي، استعفا توپیر سره لري.

- څوک ورسره لیدای شي؟

- نه!

- دا بیا څنګه آزادي شوه؟!

- خلک په غوسه دي، پر ضد یې مظاهرو ته وتلي، دده پر خلاف شعارونه ورکوي، هسې نه څوک زیان ور ورسوي لکه بوش په بوټانو یې وولي...

- د ارګ غلام بچه ګان، سلاکاران څه شول؟

- غلام بچه ګان د نوي واکمن د چاپې کولو په چمتو والي لګیا دي.

- سلاکاران خپلي خاطرې کاږي، هغو چې وار دمخه کښلې، ګل دادا ته لیکه ولاړ دي، که ور چاپ یې کړي...

ګل دادا پرسېدلی ناست وي، ځان یې هغسې جدي نیولی چې سلاکاران ورته جینګه خوله ولاړ دي...

دی د هرې مسودې پاڼې اړوي، که وګوري کوم د ارګ ډېر رازونه را برسېره کړي او له ناویلو ناپړیتو یې ډېره پرده پورته کړي، دا چې دېره مارانو څرنګه ټول خلي خځلي پر ولسمشر وراچولي او خپل ځانونه یې سپین بازان ګرځولي...

د دېره مارانو مشر د خپلو خاطرو درې ټوکه، هر ټوک یوولس سوه مخه د ګل داد په وړاندې کېښودل، ده خپلې خاطرې کمپوز کړې چې له نورو دمخه له چاپه را ووځي او یو ریکارډ ټینګ کړای شي، که د ارګ د رازونو رسوائیو د افشا کولو ویاړ دده پر سینه ولګېږي.

خو ګل دادا چاته غوڅه خبره نه کوي، نن څوک د کاکا پر خطرناک لقب نه نازوي، ټک، ټک په کالکیولېټر حساب لګوي، بلونه لیکي، نه چاته د چای ست کوي نه د شربت... له حقیقت ټول ناخبره دي، له هر چا به دې چې پوښتنه وکړه په اټکلونو به درته لګیا و، پوښتنه مې وکړه وزیران څه شول؟

- ځینې بهر ته والوتل یو شمېر وار دمخه وتلي او نور د نوي واکمن پر دربار را غونډ دي، یو دوو خو پخپلو استعفاګانو کال وړاندې نېټې کښلې.

- ګنې ولسمشر یواځې دی؟

- بېخي یواځې، دی یې په نیمه کې نه، له نیمې وړاندې یواځې پرېښی.

- سیوري یې هم ملتیا پرېښې...

- د دفتر رئیس یې څه شو؟

- هغه حیران دی د حزب پر کوم دفتر او ځانګه ور ننوځي؟

- ویاندان څه شول؟

- کولپ او کیلي دي، زبون وهلي، بې پتې بې درکه دي.

- خو زه داسې ناځواني نشم کړای، زه به خپله وفاداري ولسمشر ته ثابتوم، دی اوس هم زما ولسمشر دی، زه به دې مومم، که مرګ وي که ژوند، یو ځای به وي، که زندان وي که کوټه قلفي او نظر بندي په ګډه به یې تېروو، که سپوره وي که پورې په ګډه به یې خورو...

وایي مکه په پوښتنه پیدا کېږي، منډه منډه، پوښتنه پوښتنه، آخر مې درک ولګاوه، یوه سمخه مې وموندله، ور کوز شوم، تپه تیاره وه، د موبایل څراغ مې ولګاوه، تلم، تلم چې پر یوه کلا ور برابر شوم، ما ویل که د ققفاز غرونه دي، کوه قاف ته ورسېدم، د کلا اوسپنیزې لویې دروازې تم کړم، ګرز شو دړه بېرته شوه، له دروازې مې پښه واړوله، یو تور حبش مې مخې ته راغی، د نامه پوښتنه یې وکړه، ما خپل نوم ور وښود. ویل، ایکس پریزېډېنټ همدا اوس یاد کړې، زړه مې باغ باغ شو، تور حبش تر مخ، زه ورپسې، ولسمشر ته یې ودرولم، دده خوله له خندا ډکه وه، خورا خوشحاله و، له هغې زیات خوشحاله چې په ارګ کې مې لیده، د انګورو ډک غوری ورته ایښی و، اسقلاني ختکي ورته پراته ول...

ما خپله خواشیني پټه نشوای کړای، په ژړا شوم، سلګیو واخیستم، خو ولسمشر په حیرانۍ پوښتنه وکړه، څه خبره ده، ولې ژاړې، څه پېښه ده؟

زه هک پک شوم، له سلګیو ژړا مې ستونی ډک کړی و.

- تر دې بله بده پېښه کومه کېدای شي، کودتا شوې، له واکه یې لېرې کړی یې او...

- کودتا شوې، له واکه یې لېرې کړی یم، کوم واک، د څه شي واک، کومه ولسمشري؟

ما خو له کنځلو، رد و بدو څه نه دي لیدلي، خلکو زه کنځلم، زما سلاکاران او د ارګ غلام بچه ګان... د کنځلو ژبه او ټرمینالوژي دومره غني شوه چې تورم او پړسوب یې رامنځته کړ.

- سلاکاران لګیا دي خپلې خاطرې کاږي، سبا بله ورځ به یې چاپ کړي، هره پړه، هره نادوده یې ستا غاړې ته در اچولې، د هرې غمیزې مسوول تا پېژني.

- دوی ولې دا کار کوي، په دې کې یې ګټه څه ده؟ دا لیکوال ټول داسې نمک حرامه خېژي، دوه مخي، بې مروته؟

ما دوی ته په ډالرو معاشونه ټاکلي ول، د دوی په خوله او خوښه مې چارې تر سره کولې.

د امریکا ښوېدلې پښه مې ورته ټینګه کړه، له طالبانو مې وژغورل، سرکونه، لارې، بلند منزلونه مې ورغول.

- صاحب! ته د دوی افتراوې، بهتان او دروغ رد کړه، تاسې هم خپلې خاطرې وکاږئ، د دوی غوړه‌مالي، چاپلوسي، سپیتانې را وباسئ، فلمونه ویډیو یې وړاندې کړئ، د دوی دا هر څه CCTV کېمرو خوندي کړي، دا کار خورا اسانه دی، په شرمو به وشرمېږي، له چا سره به د مخامخېدو سترګې ونه لري.

- زه دا کار نشم کولای چې له دوی زیات شرمېږم، حیا د حضور لرم...

- شرم ښه شی دی، خو داسې نه چې شرم مې کوت بېخ مې خوت، خبره تري جوړه شي.

- په دې به فکر وکړو، خو د پادشاهی خبره بیا ونکړې، به باد آمد به باد رفت...



ملا جان میرخیل

### د تجارت ګټه؟... ازاد نظم

هر څه به وپلورل شي
هر څه د پلور دي
دلته هر څه خرڅېږي
ډېر ګټور تجارت
له ټولو غوره مارکېټ
هر یو سړي دکاندار
هر څه پریمانه
ډېر ډېر ارزانه
***
دلته د خاورې بازار ښه غوړېږي
له ټولو ښه خرڅېږي
ډېره ښه ګټه کوي
په دې بازار کې د نړۍ هره سکه چلېږي
ډالر ـ کلداره، ریال، پونډ او دینار
ان له کوټه سکو د خلکو امیانۍ ډکې دي
ګردې شپه شمیري د نوټو بنډلې
هر ځای راغونډ بنډلیان
هر یو د پیو مجنون
تري ډکوي د خزانو ژورې
ګوره د خاورې سوداګرو ته په بربړ وایي
څنګه په یوه ذمه بولۍ لګوي
د خاورې پلور ته ګوره څرنګه سینه ډبوي؟
ګل سر شوی تازه ګندنه
***
څنګه د خاورې ارزاني په لوړ آواز غبرګوي
څوني هوښیار دي، څومره ژر خریداران جلبوي
څرنګ په لوړ غږ یې لیلام ګډ کړی
ګوره دې عقل ته چې خاوره یې د پلور جوګه کړه
که نه په خاوره چا پیسي ښندلې؟
دا سوداګر څومره هوښیار ختلي
شیطان ته چا ویل چې خاور به خورې؟
وې که د غوړو نوکی ټبی لري؟
خو دوی لګیا دي په مزه مزه او بی له تبي
خاورې خوري، خاوره یې روزه ګڼلې
ماران په خاورو پایي
د دوی څارګرې سترګې
تر خاورو لاندې پټ غوړې پېژني
کسه ته دغه شیطاني هوښیاري
چې غوړه خاوره څرنګ ژر تېروي
څکه یې دا غږ په غوړونو باندې ښه لګېږي
ګل سر شوی تازه ګندنه
***
هر څه د پلور دی نن له هر څه خاوره ښه بیه کا
اوس تور بازار کې توری خاورې ډېرې ښې خرڅېږي
د سترګو رپ کې دا متاع اوبه شي
د خاورې پېر ته څوني لوی لوی سوداګر ورمات دي
که نه دا توری خاورې چا پېرلې؟
دې لوی کمال ته ګوره
چې نن یې خاورو ته مارکېټ موندلی
منم دولت په تجارت کې ډېره ګټه کړی
د تجارت نوي وزیر ته پارلمان د باور رایه ورکړه
اوس پلار او زوی شول د یوې کابینې دوه وزیران
له دې نه ښه پرمختیا بله چېرې؟
چې تورو خاورو ته بازار ومومي
که لپه خاوره چیرې پاتې، پلور شوي نه وي
***
په تجارت کې دومره ګټه چا په خوب لیدلي
له خاورې وړاندې مور اوبه پلورلي
څکه بې ابه اوسو
د تجارت په جادوګرو ګوتو
مورږ خپل هر څه پلورو
څه که «بازار د بریژنیف» ټول شوی
نن دلالان د «بوش بازار» لګوي
بله ورځ ګوره چې پرانیستی یې وي
پر کوم یو واټ د بل بې پیره بازار
دلته د هر چا بازار ښه چلېږي
آزاد مارکېټ ته موده غیږ پرانیستی
په خپلو وینو او سرونو ـ مو لیلام ګډ کړی
په خپلو لاسو مو د خپلې مینې بام ګډ کړی
د ځمکې لاندې د خپل پلار نیکه هډونه پلورو
چې خزانې یې باسو، چې یې کانونه پلورو
څکه چې ګټه کوو
په سودا ښه پوهېږو.



# سرخورده و سرافگنده



مصطفی «عمرزی»

**هفده سال سال پس از هجوم امریکا به افغانستان، فرصت ها در عکس قضیه، دشمنان تحریک طالبان را شانس دادند با هجوم ملخ وار به امکانات شهر ها، ضمن تنفس آزاد، از منگنه ی سوراخ ها و حفره های جبهه ی به اصطلاح مقاومت، به نحوی در شرکت سهامی حکومت افغانستان، تحمیل شوند. بازیگران بدترین تاریخ معاصر (حاکمیت تنظیمی) در ساخت و ساز دیموکراسی وارداتی، ارکان و ستون های حقوق بشر، آزادی بیان و بنایی معرفی می شوند که در طول تمام این کمیدی، مدافعان جهانی حقوق بشر و آزادی نخواستند بفهمند از دو سوی بحران افغانستان که یکی به بهانه ی موتلف القاعده، به جای سوراخ نشینان کوه ها، از ارگ به مرگ محکوم شد، در کدام تجربه ی مدنی جایز بود کسانی جای طالبان را بگیرند که در چهار سال، دمار از هستی افغان ها درآورده بودند...**

...از همه بدتر، مجریان اغراض همسایه گان در زمینه ی دیموکراسی مورد حمایت غرب با مدعای ایرانی و روسی، به درستی تفهیم می کنند کسانی که از همراهی با سربازان آمریکایی تا حد صفاکار، خانه سامان و خدمه، شان خویش را نمایش دادند، اگر از باد پول های جهانی شتاب می گرفتند که آرمان دل بکشند، در نبود شعور سیاسی-ملی که در بحران جهاد افغانستان در تنوع تنظیم ها، به جز افغانستان، افغان ها و منافع ملی ما، هرگونه ی تعهدی را امضاء کرده بودند، بهتر نبود از سطح خدمه و عمله ای که از چنگال طالبان، نجات داده شده بودند، در حدی به جاه می رسیدند که اگر ماندند و از فرصت نو، زنده گی یافتند، هرگز لازم نبود جای آنان در مغز استخوان نظام، به اندازه ای به عفونت بکشد که از نحوه ی وابسته گی های شان به بیگانه، تکنوکراتان افغان، در چهار راه برخورد با دنیا، هنوز نمی توانند از سطور اول پاراگراف مشی خارجی ما به صفحه ی دیگر، صعود کنند.

هرچه باشد، خصوصیت مکتب افغانستان (موقعیت جغرافیایی و دموگرافی)، درس هایی تهیه می کند که در مولفه های اجباری آن، مخالفان، به سرخورده گی و سرافگنده گی نیز می رسند؛ زیرا می بینند کشور های پیرامون با تعریف منافع ملی-رژیم ها، بر مجموعه ی مزدور، به اندازه ای قایل اند که به نفع شان باشد.

سقوط طالبان، هرگز به معنی نفی آن واقعیت هایی نیست که وقتی مخالفان آنان به شهر ها و انحصار قدرت رو آوردند، یاد ما نرود ملا ربانی با گروهک شر و فساد در لویه جرگه ی قانون اساسی با فهرستی از بازیگران وابسته به ایران و روسیه، زور می زدند با افزایش رقم امضاء، طرح تعدیل نام افغانستان در شرایطی رقم بخورد که پس از آن همه بحران، چنین نیتی برای تداوم بحران بود؛ هرچند گروهک شر و فساد با ارایه ی طرح خجالت آور خود شرمسار شدند، اما حضور نحس آنان در انحصار پُست ها و چپاول دارایی ها، در حالی به دهن کجی در برابر غربیان برخاست که از خیرات حضور آنان می خوردند و ابقا می شدند، ولی رشته ی مودت را به تار های ولایت فقیه و حریف به ظاهر پیشین (روس)، بسته بودند.

در طول ۱۷ سال گذشته، رفت و آمد ها با توجه بر ایجاد ذهنیت های ضد افغانی، به خصوص ضد پشتونی، مخالفان داخلی کشور را ناامید می کنند که می نگرند باوجود اغماض و ضیاع حقوق بزرگ ترین واقعیت افغانستان (پشتون ها)، دوستان خارجی در سیاست گذاری های افغانستان، از واقعیت ها چشم پوشی نمی کنند.

حرمان از تغییرات بنیادی خواست گروهک ستمی- سقاوی که با نمونه ی روسی اش (تجاوز شوروی) نیز به یاس مبدل شدند، این قشر را در موقعیت انحصارگر، چپاول کننده و ضایع کننده ی صد ها فرصت مصالحه ی ملی، با گرایش به استخبارات منطقه، در سیمایی نشان می دهند که اگر شعور پایین شان، آزمون اعتماد را صفر می دهد، دل خوشی ها در پیوستن به ائتلاف های منطقه یی ضد افغانستان، زمانی به سرخورده گی و سرافگنده گی آنان رسیده اند که دیگر هیچ ادبیاتی قادر به تعمیم غلط فهمی در میان پیروان انحراف نیست.

یادم می آید وقتی معاون بارک اوباما، طالبان را قضیه ای مجزا از القاعده اعلام کرد که دشمنان امریکا نیستند، رسانه های وابسته به گروهک شر و فساد زور می زدند با تاویل سخنان او، خطر این سیاست را برای عاقبت شوم خودشان، وارونه کنند. افراد وابسته به آنان، ده ها بار در میز گفت و گوی غربیان نشسته اند. نمونه ی روراباکر، اگر استثنای دور از رسمیات امریکا بود، با طرح این که مدعیات گروهک های ضد افغانستان بر اساس اندیشه ی ستمی گری، واقعیت های خراسانی- پارسی اند، با طرد دوستان بین المللی، استفاده ی ابزاری در سطح حکومت را به مصیبت نظام ناکارا و بسیار سیاسی مبدل کرده اند که هر کی پشتون نباشد، فقط می خورد و چور می کند و این خیانت ها را از برکت خارجی ها نیز می داند.

افت افغانستان در مثال گرایش های افرادی که با تحمیل بر سیستم، هزاران نوع خیانت کردند و اما عاجز از درک موقعیت و سیاست ها، اینک در نوبت تحویل گیری طالبان از سوی ایران و روسیه، به چنان سرخورده گی و سرافگنده گی رسیده اند که توجیه آن در فضای مجازی بیداری فکری، درز و شقاق را هرچند به نفع افغانستان، اما در میان آنان انداخته است.

خوانش و نگرش متن و سیمای سرخورده گان و سرافگنده گان، لذت بخش و خوش است. این سقوط کمک می کند در کشوری به تعدیل افکار باطل خویش بپردازند که در موضع تاریخ، فرهنگ و حضور سیاسی چهل سال، زمانی که ارزشمندی های آنان به صفر تقرب می کنند، بایسته است در تبیین ناهنجاری هایی که می کنیم، به این نتیجه برسند که اگر خیری از حضور سیاسی به اصطلاح هژمونی گروهک ها متصور نیست، حداقل با آن چه به دست آورده اند، ولو ناروا، حرام، زیاده و با اجحاف بر دیگران، در میزان سیاست های بیرونی بدانند که اگر روزی تمویل می شدند و پیروان بیگانه در جهاد و مبارزه ی افغان ها شدند، قیمت آنان نیز چیزی بیشتر از نرخ مزدوران و مزد بگیرانی نیست که در زمان نیاز استخدام می کنند و نوع سیاسی آن، برپایی محافل، حرکت ها، احزاب و جریان هایی ست که مانند گروهک های داخلی افغانستان، پس از تاریخ مصرف، آب دهن می شوند و بر گندی که زده اند، می اندازند.

خوب است در زمینه ای که در هرج و مرج آن، به نان و نوایی رسیده اند، حداقل برای حفظ ماديات ناروا، در حالی به این کشور خیانت نکنند که با تشدید بحران داخلی که به اساس شعور پایین شان ایجاد می شود، در پیامدی که هر آن صاعقه خواهد شد، از مفادی محروم نمانند که اگر سهم افغانستان و ملت افغان را نبخشیم، دوستان خارجی باید قبول کنند و پاسخ دهند در کدام بند، فقره و ماده ی دیموکراسی غربی، اجازه است برای ساختار بنیادین و محکم، از مواد و مصالحی استفاده کنند که در کهنه بازار بحران افغانستان، هیچ نامی جز خاین، قاتل، تنظیمی، فاسد، جنایتکار و مزدور ندارند. اگر تاریخ چهار ساله ی حاکمیت ملا ربانی، چیزی بیشتر از نخبه گان موصوف (بالا) دارد، نشان دهند تا از میان سرافگنده گان کنونی، مشخص کنیم.

سرخورده و سرافگنده، دو مشخصه ی بارز کسانی اند که یادگرفته اند برای منافع شخصی، قومی، تنظیمی حزبی و بیگانه، افغانستان را فراموش کنند، اما شوکه می شوند که می بینند تعریف منافع بیگانه، تاریخ مصرف آنان را مشخص کرده است.





# شاه گله دا دي لا بله؟؟؟

جبران جبرانلي

**هر کله چې یو نیمه ناپېرته واورم حیران دریان پاتې شم، «زه به ولې نه لېونی کېږم» د شعر خالق مې مخې ته ودرېږي نو د لا چارې نه د سالم عقل خاوندان مجبور دي چې د قدرت دې لیونیانو ته په کړس وخاندي ماته: یو کیسه رایاده شوه د یو دارلمجانین مخې ته یو موټر خراب شو او د مخکې ټېر څلور واړه ټتونه یې مات شول، د موټر خاوند د موټر په خوا کې حق حیران ودرېد چې اوس به څه کېږي، لیونیانو ورته په مرموز انداز یو ډول خندا ګانې کولې د موټر خاوند نه یې پوښتنه وکړه چې ماما ولې خفه او پریشان یې، سړي ورته وویل چې د یو ټیر څلور ټتونه مې مات کړي یو لیوني پرې ورغبر کړ چې دا دومره لویه مسئله نه ده د یو ټیر یو یو نټ خلاص کړه او مات ټیر ته یې واچوه، هر یو به درې درې شي خپل منزل ته به ورسېږې، د موټر خاوند ورغبر کړ چې ته خو لیونی یې هغه ورته وویل هو زه لیونی یم خو احمق نه یم، دې ایتلافیانو خو له احمقانو هم وراړولي ده زه حیران یم چې دوی په کومه خیالي نړۍ کې اوسېږي، دوی چې څه کوي زه وایم «این خیال است و محال است و جنون»...**

...دوی دوه ډاکترانو په یوه څپلۍ کې دوه پښې ننویستې چې دا مو حال دی په دوه قصابانو کې غوا مردارېږي او که په یوه څپلۍ کې د اته پښو د ننویستلو هڅه وشي نو بیا به په دومره ډېرو قصابانو کې د غوا خوارکۍ به څه حال وي، دا یاران نه مشران مني نه افغان مني او نه اساسي قانون دی لنډغرو ته سړی نور څومره صبر وکړي، دوی ته نور صبر کول ماته جرم ښکاري، د دې مفت خورو خولو ته کورې اچول پکار دي؛ دوی خو د قدرت او څوکۍ لپاره هر څه کوي، ماته یو زړه خبره را یاده شوه په امریکا کې یو سناتور ویلي و چې پاکستانیان د پیسو او قدرت لپاره خپله مور هم خرڅوي دې بد رنګو او بد مخو ته سړی له کومې زاویې وګوري، زه ویره لرم که سبا کوم امریکایي سناتور د دې ناجایزه اولادونو لپاره ورته لفظ استعمال کړي زه خو ورته د یو کتاب په یو حاشیه کې هم ځواب نه لرم، ماته خود بې شرمی. او بې حیایي ټول شوي تعریفونه غلط ښکاري او یا راته غلط ویل شوي دي که د بې شرمۍ او بې حیایي تعریف د لکۍ او ښکر سره شوی نو یو څه رنګ او روغن به یې برابر و.

زه دې مردار خورو ته وایم چې اولس ستاسو په ارادو او کارنامو خبر دی تاسې چې هر څه کوئ د هغې همدا یوه معنی ده «هندو سترې او خدای ناراضه». خدای(ج) شهرت ننګیال ته خیر ورکړي چې زما کار یې اسان کړی هغه پخوانی لنډغر یې ښه بربنډ کړي او دا اوسنی لنډه غر خو راته ګازره هم نه ښکاري: که سم ووایم دا ملت خو لیوني سپي نه دی داړلی چې ټول عمر به نامردانو پسې اقتدا کوي ګوري په تېرو انتخاباتو کې بد- بدتر او بدترین کې د یو انتخاب و مورږ بد خوښ کړو او د شاه جهان ماما د څوی ملا مو کلکه وتړله، خو دې ته هم جان کیري په هوا کې محلونه وښودل د دې لالا اوس هم ډېره نرګۍ نشته خو دا ځل په کې د یو لفظ اضافه شوی، بد- بدتر- بدترین- مردار ترین وایي که ګور ګران دی د مړي ناکام دی ملت مجبور دی، چې بیا هم بد انتخاب څکه چې ۵۰ + ۵۰ خلک تر پزې ته راوستي او د ۵۰ + ۵۰ په شتون کې د کفر دروازې خلاصې شوي دي او که دا ځل ۲۰۰ + ۲۰۰ شی نو بیا راشه که تودېږي، دوی ته په کوم ځای کې پرتوګ ګنډو، ما نه چا پوښتنه وکړه چې ته په ایتلاف کې څه وایي ماته د پاکستان افضل خان او سردار نصر الله خان رایاد شو د هغه په هکله مولانا بجلي ګهر ویلي افضل خان ټانکه پارټي ده او نصر الله خان «هوکا» پارټي ده زه د بجلي ګهر سره هم نظره یم زه دې ایتلاف ټانګه او قیلون ایتلاف وایي «هوکا» په اردو ژبه کې وچلم ته وایي کله چې په پنډۍ او اسلام آباد کې ایتلافونه جوړ شو نو خلکو ورته به ښه نظر نه لیدل ویل به یې دا یاران د ضیاء الحق پیدا وار دي.

دوی اسلام ته نه اسلام اباد ته ډېر کار کوي، په دې زاړه ګنهکارانو زړونه مه تړئ، دوی رهبران نه رهزنان دي: دی ورته بلا ډېری خبرې کېدې: خو ما د دې لفظونه دفاع کوله، ویل به مې چې دا د کمونستانو زهرجن تبلیغات دي په دې غوږ مه ګروی: او کله چې مې د مسعود او دوستم ائتلاف ولید: نو عقل مې سرته راغی، زه اوس هغه خپلې زړې دفاعي لیکنې چې د دوی په حق کې مې کړي بېرته اخلم او د هغه خلکو هم بخښنه غواړم چې ما ورسره قلمي جنګ کړی زه په ډاکه اعلانوم چې قمار د هغه وخت دفاعي لیکنې د یو ناکام لیکوال ته ورته وي او زه ځان د هغه وخت یو ناکام لیکوال حسابوم- اوس زما قلم هم د دوی لپاره څه لیکلو ته زړه نه ښه کوي او خپله توره سیاهي پرې هم نه پیرزو کوي خو خپله برخه رنګ ضرور قی کوي درنو لوستونکو نور له ما سره قلم یاري نه کوي چې زما رنګ نور په د ي او باشانو مه خلاصوه زه د قلم زور نه لرم خو دا بیت ضرور لیکم:

**انانیکه شیر را کند روبا مزاج**
**جوابش یک طلاق دو طلاق و سه طلاق!**



# جنګ دې ورک شي، رنګ دې ورک شي!

## اوربند د جنګ د ختمیدن لور ته لومړنی ګام دی...!





**دا چې ځنګه یې مطرح او مثبتو پایلو ته ورسوو، له ټاکنو وروسته به یې لویو بحثونو، مناظرو او د تصمیم او پرېکړو پر ډګر را برسېره کړو.“**

# منحیث نوماند نه، د لوبغاړي په توګه میدان کې یم

پر بهرنیانو مالي تکیه زموږ مجبوري ده، د اندېښنې ځای ذهني اتکا ده.
تعریفونه ښایي زموږ خپل وي، زموږ د درک، غوراوي او خپل اجتهاد له امله رامنځ ته شوي وي، بهرنی فارمولې توهین دی.
پر ځان د خلکو راټولول ستونزمن دي، خو هدف، طرحه او اصول د ولس لویه کتله راټولولی او همغږې کولی شي.
د اعتماد سیاست د دواړو هېوادو په ګټه دی، د وېرې له زاویې نه، د فرصتونو له اړخه باید پرمختیاوو او مسایلو ته وګورو.

**”سوله لومړیتوب دی، ما دا وارې په لارو فکر او بحث کړی، دا چې کوم ځای بند پاتې یو، داسې یوه لار چې په خوندیتوب سره پر هغې تللی شو، ددې ټولو له ما سره یو واضح تصویر شته، خو**

«له مودو وروسته انټرویو ده، له یوه چاړواکي سره چې لا پخوانی نشوای بلل کېدای، بمبار مرکې ته په ذهن کې د معصومو او له شرارت ډکو پوښتنو لړلیک غځېدلی -له ځان سره وایم لومړی یې له کومه پیل کړم- د پروفیسر جالف د درسونو دغه ټکی چې په مرکه کې به مهمه پوښتنه پای ته دَر سره ساتې زړه او سولېدلي خبره ګرځېدلي.
اسد دانش راته وایي، پروفیسر جالف به د مرکې پای ته د مهمې پوښتنې د ساتلو سپارښتنه کړې وي، که نه، خو ته دې دا خپل ژورنالېزم په جیب او بکس کې دَر سره ساته.
نو اوس یې ځنګه پیلوې، لومړی پوښتنه به پر کومه موضوع او مسئله را ټولوې چې څو پر ځان پوهېږې پر مرکه سربېره دې بریکینګ نیوز «بیړنی خبر» هم تر لاسه کړی وي.
ما له ډېرو ستو او ګرګو سره مرکې کړې، که هر څوک یې نه دي غوښتي، خو ما یې که خوله کې د ګوتې ور اچولو مخه نه ده موندلې، خوله مې یې داسې بوی کړې چې د زړه پټ رازونه مې هم ترې را اېستلې دي، هغوی چې له رعب او دبدبې یې مار پوست غورځاوه -ما لکه توتي په خبرو راوستي، خو دا هر څه زما د ځوانی د وختونو کیسې دي -اسد جان ته وایم، سپین سهار در سره کړه زما عمر د انټرویو ګانو نه دی.
د مرکې لپاره اړینه خبره د شخص ژوره او هر اړخیزه مطالعه، مشاهده او پېژندنه ده، کنه له انټرویو نه انټرویو ښه ده.
زما له اوله دا پوښتنه زښته ده چې درته ووایي: که درنو لوستونکیو ته ځان معرفي کړئ، ډېره مهرباني به مو وي! یو ځل چې دغه پوښتنه یوه ځوان له ما وکړه، سپک ترې ولټېدم.
ما د زاخېلوال مطالعه پیل کړه -دده د قوت او ضعف په ټکو پسې ولګېدم خو چې مرکې ته ورسره کېناستم زما مطالعه نیمګړې وه، ما له ده خپله مطالعه په همدغه مرکه کې یو څه پوره کړه.
په مرکو کې زما ټریک او تاکتیک یا د مرحوم ننګ یوسفزي په خبره، طریقه واردات داسې ده چې په لومړی پوښتنه کې د شخص د خوب په رګ ګوتې پورې کړم -له زاخېلوال سره مرکې ته هم د همدغه تاکتیک یا ټریک له مخې کېناستم.
ما به چې لومړی پوښتنه د خپل دغه ټریک (Track) او تاکتیک په سمبالولو د چا مخې ته کېښوده، نو له خوشحالی، هیله مندی او هوس نه به یې خوله له یوه غوړه تر بله خلاصه وه، خو له زاخېلوال سره ناسته او مرکه بل ډول راووتله:
لومړی پوښتنه مې له هماغې هیلې او توقع سره دده په مخ کې را پورته کړه، چې اوس به نو دده په خبرو، څېره او سترګو هرومره د واک او چوکۍ تنده، تلوسه او هوس سر را پورته کړي، د اقتدار جل وهلې تنده به یې پر څېره را دبره شي، که په خوله هر څو هغه دغه کړي -پر څېره به یې د واک د تندې او هوس کرښې خورا روښانه ولوستلی شم- سترګو به یې د زړه دننه ټوله پټه ماجرا را سپړلې وي، ځکه چې واک، اقتدار او ولسمشرۍ ته تنده د ډېرو نه، بلکې ټولو سر ته ختلې -په تېرو ولسمشریزو ټاکنو کې د یو شمېر نوماندانو په اړه ما خپل کالم کې د دوی پر روغتیایي کتنو، لابراتواري او رواني معایناتو ټینګار کړی و- چې که نارمل وای په باور سره چې د واک دغسې اشتها به یې سر ته نه وای ختلې.
مرحوم پسرلي ویلي:

ځــومره ملا شرمې دي، دا د پېښور او به
هر چېري چې چښلې سلطنت ته به یې تمه وي

خو ما له خپلې دغسې یوې پوښتنې سره د زاخېلوال په سترګو او څېره کې د کوم هیجان، تندې، تلوسې، هوس یا پټې ماجرا کومه نښه ونښوای موندلی، دده سترګو، څېرې او خولې ټولو یوه خبره کوله.

په دغسې مرکو کې ما د ډېرو د څېرې، سترګو او خولې خبره یوه نه ده موندلې -د دوی تر منځ تضاد او فاصله په هر ټکي کې څرګنده وه، خو د زاخېلوال د څېرې، سترګو او خولې خبرې یو ډول راختلې، ځکه خو یې د خپلو نظریاتو او افکارو په اړه د چا له ملامتۍ کومه اندېښنه نشوای لرلی، چې غوښتل یې څه ووایي په ډاګه، په څرګنده یې ویل -ژوولې یې نه ویل- او چې نه یې غوښتل هغه مو‌ړ پرې ونشوای ویلی.



له زاخېلوال سره مو له مصنوعي او تشریفاتي چاپېریال دباندې لکه بنډار مرکه پیل کړه -له رسمیاتو ګوښه مو سره وشاربله- زما په اند همدا د یوه شخصیت د سیاسي فضیلت څرګندوی دی.»

**پوښتنه: په نوره نړۍ -لکه انګلستان کې- مالیې وزیر له صدر اعظم وروسته د واکونو مرجع او په مالي چارو کې د زیات صلاحیت خاوند باله شي، تر دې چې د بلې دورې د صدر اعظم په سترګه ورته کتل کېږي، په افغانستان کې تر ټولو مهمه سفارتکاري اسلام آباد کې په ګوتو کېدله. په دې مانا چې اسلام آباد د فعالې دیپلوماسۍ، تجربې، وړتیاوو او مسلکیتوب له اړخه تر واشنګټن او لندن زیات ارزښت درلود. مرحوم میوندوال او اعتمادي د اسلام آباد له سفارته صدر اعظمان شول. دغسې یوه شالید ته په کتو د خپل راتلونکي مَنزل او منزل په اړه راته ووایاست.**

**زاخېلوال:** که رښتیا را باندې وایې زما وظایف تر ډېره تصادفي وو -په اتیایمه لسیزه کې منحیث مهاجر، داسې یو څوک چې د کډوالۍ په کړاوجنو شرایطو کې تحصیل ته ولاړم، له خپلو خلکو سره نژدې پاتې وم، لومړني فرصت کې هېواد ته وګرځېدم- په دې مانا چې په هېوادنیو مسایلو کې زما له پخوا ارتباط موجود و -چې څرنګه فرصت مساعد شو، هېواد ته راستون شوم، تحصیلات مې بشپړ کړي ول، د هېواد او خلکو خدمت ته چمتو وم. له بېرنۍ لویې جرګې د اساسي قانون تر هغې په خدمت کې وم -له حکومتي دندو سره مې علاقه نه وه خو دا مې هیله وه چې د خدمت او کار مخه وموم، یو رول که څه هم کوچنی اوسي ولرم، که څه هم زما په اند لوی وړوکی رول نشته، خدمت لوی او کوچنی نه لري -په نظام جوړولو کې هر ګام لوی دی، خو څرنګه چې حکومتي وظایف لومړی محدود وي، زه هم په حکومتي دندو پسې نه وم لګېدلی.

په حقیقت کې زه حکومتي وظایفو ته راکش کړی شوی یم، ما نه دي غوښتي، لومړی یې د کلیو پراختیا وزارت کې سر مشاور کړم، دا نیمه حکومتي دنده وه، بیا آیسا، ترانسپورت او مالیې ته راغلم، له مالیې مې ډېر ځان وغړاوه، څو ځله د احدي صاحب د استعفا مانع شوی یم -زما په ټینګار یې خپله د استعفا پرېکړه شاته کړې یا ځنډولې، خو چې قطعي استعفا یې وکړه -بیا یې دا مسوولیت زما پر غاړه را وغورځاوه.

د اسلام آباد سفارت هم تصادفي و، له دې دمخه ښاغلی غني د اقتصاد ملي سلاکار کړم، دغه وخت له پاکستان سره اړیکې نژدې شلون ته رسېدلې وې، ډېرې ستونزې رامنځته شوې وې، کافي مسایل ول، خو دا هم حقیقت دی چې پاکستان منحیث د داسې ګاونډي چې کثیر البعدي اړیکي مو ورسره دي، شلېدن او خلاصون مو ورځخه نشته، پر امن او ثبات سربېره اقتصاد، سوداګرې کې هم تر ډېره بریده ورسره پېیلي، یو ډول نه یو ډول له پاکستان سره په اړیکیو او پوهاوي اړیو، دا چې څه ډول اړیکې ولرو، څه وړ یې وپالو، یا څه ډول یوه لار وموموچې له ستونزو، خنډونو یو څه خنډې ته اوسي، دا زما له ترجیحاتو وه. مالیې وزارت او سفارت دواړو کې مې جدي مسوولانه کار کړی، مبالغه به نه وي که ووایم ۲۴ ساعته مې کار کړی، یا مې کار ته چمتو تېر کړي، هېڅ کار مې ضمني نه دی ګڼلی.

سفارت د ولسمشر غني غوښتنه وه -زه یې په ذهن کې دغه چارې ته مناسب بللی وم، له مالیې وزارت نه سفارت هغه څه چې تاسې یاد کړل- د هغې په لور کوم ګام، هڅه او توقع ګڼلی شم، زما عقیده دا ده چې هره دنده او چاره باید په اخلاص، صداقت او جدیت تر سره کړای شي په دواړو دندو کې زما لاسته راوړنې یوازې زما نه دي، زما د ټیم او ملګرو دي.

په سفارت کې لویو، مطرح او دخیلو هېوادو زموږ تحلیل پاموړ وګاڼه -د دوی په دریځونو کې لږ و ډېر زموږ د ارزونو اغېز ته مخه پرانیستل شوه، په رسنیو کې زموږ دریځ په روښانه ټکیو څرګند شو، د ملي منافعو په دفاع کې قوي استدلال او موضعګیري وشوه، رغنده بحثونه رامنځته شول -د پاکستان له ملکي، سیاسي او پوځي لیډرشیپ سره د جدي، خو منطقي بحثونو لړۍ وغځېدله چې اغېز یې څرګند دی.

مالیې وزارت کې هم پرمختګونه زیات دي، د مخکې او وروسته دواړو پرتله پرمختګونه څرګند دي، سفارت کې لکه دمخه مو چې اشاره وکړه د لومړي ځل لپاره دغه پرمختیا رامنځته شوه چې د انګلیس، چین او نورو لویو هیوادو سیاسي نمایندګۍ دې له موږ څخه واورې، د دوی د تحلیلونو او دریځونو په تغیر کې زموږ د ارزونو او ډیپلوماسۍ رول څرګند و.

موږ له رسنیو سره د افغانستان اړیکه جوړه او غښتلې کړه -د مطبوعاتو ذهنیت مو تر ډېره بدل کړ.

کډوال چې د ناوړه چلند ښکار ګرځېدلي ول، دغه احساس مو ور په برخه کړ چې د پوښتنې او دفاع څوک یې شته، په دغه برخه کې وضعیت ډېر ترینګلی و -د احترام او عزت وضعیت زموږ یو له اهدافو څخه و، نسبتاً د عزت چاپېریال کډوالو ته میسر شو.

زموږ په لکونو کډوال هلته مېشت دي، له افغانستان زیات پښتانه هلته استوګن دي، هغوی ډاډه کړای شول، د دوی زړونو ته ولوېده چې زه د پردي هېواد استازی نه یم، له دوی څخه د دوی له منځه یم، په ټوله کې زموږ د نظریاتو ترویج مېشت انعکاسات رامنځته کړل.

سفارت په حقیقت کې هویت دی، چېرې چې دوی مطمئي نه برېښېدل سفارت یې د اطمینان او باور بریالۍ هڅه وکړه.

**دانش: موږ ستاسې بریاوې خارلې، ستاسې د جدیت پایلې را څرګندې دي، په دغسې حساسو شرایطو کې ستاسې د استعفا لاملونه څه کېدای شي؟**

**زاخېلوال:** زما استعفا د کوم ژور اختلاف له امله نه ده -د ډیپلوماټیکو ماموریتو یوه دوره وي، زما نژدې درې کاله وتلي، ما له سفارت وړاندې فکر کاوه له پاکستان ډېر مالومات لرم، خو چې وروسته وپوهېدم ډېر نه ول.

پاکستان څه غواړي، آیا د حل یوه لار پیدا کېدلی شي، دا هر څه ما سره دي، ښایي له دغو موندنو ګټه واخلو -د سولې په اړه مې کافي وضاحتونه موندلي، که پاکستان پرېبږدو، طالبان څه غواړي ددغې جړې ماشوړې د سر موندلو په هڅو کې مې یو څه تر لاسه کړي.

ما په دې فکر کړی، د اوارې لټه مې کړې چې په کوم ځای کې بند پاتې یو -یوه لار پیدا کېدای شي، که شي څه ډول پر هغې لاره خوندي تللی شو- ددې ټولو ما سره یو واضح تصویر دی، هیله ده زما له دغو مالوماتو او موندنو ګټه پورته کړای شي.

داسې نه ده چې زه له سیاست وتلی یم، په ټاکنو کې د سولې مسئله ډېره مهمه ده، طالبان څه غواړي چې ترسراوی یې شونی دی چې د جنګ پر ځای سولې او رغنده خبرو ته را وګرځي، خو دا خبره به څنګه مطرح کوو، دا به که خدای کول له ټاکنو وروسته بحث، مناظرې او د تصمیم او پرېکړو پر ډګر را برسېره کړو.

**پوښتنه: د ولسمشرۍ له تېرو ټاکنو د خپلې انتباه او راتلونکیو هغو په اړه له خپلو نظریاتو راته ووایاست چې د بهرنیانو په خبره له بل وېرووونکي خوب ژغورل شوي ول؟**

**زاخېلوال:** پر بهرنیانو مالي تکیه زموږ مجبوري ده -د اندېښنې خبره ذهني تکیه ده- تر هغې چې عام ذهنیت داسې وي چې هېڅ سیاسي بهیر د بهرنیانو له ونډې نشي بریالی کېدای -دغه ذهنیت په ټوله کې موږ آسیب پذیره کړي یو.

په ۲۰۱۴ کې خلک له سختو ګواښونو سره را ووتل، رایې یې ورکړې، خو بهرنی

بې حده تکیې او مداخلې نتیجه کمرنګه کړه، کیسه بلې خوا لاړه، ما له یوه اړخ کلک ملاتړ کاوه، فعال لوبغاړی وم، د رښتیني ملي وحدت پلوی وم، خو تعریف او درک باید زموږ خپل وای -په اصطلاح له دباندې تعریف نه وای را باندې تپل شوی- هغسې تعریف چې د ټولنې له مزاج او خواصو سره یې هم اړخ نشوای لګولی، *ښکاره به یې وایو بهرنی فارمولې زموږ توهین دی.*

**دانش: ولسمشرۍ ټاکنو ته ستاسې نوماندې یو متواتر خبر ګرځېدلی -موږ هم ستاسې نوماندۍ ته خوشبین وو، ستاسې جرأت مو خوښېده، له حاجي ظاهر سره -که څه هم زما ورسره د یوې خولې خندا شته- ستاسې جرأتمندانه چلند او دریځ د ډېرو خوښ و او بیا چې تاسې جلال آباد کې له پښتونستان څلور لارې تر سپین غر هوټله پلي ولاړئ د ډېرو زړونه مو په ټوپونو کړي ول؟**

**زاخېلوال:** پلی تګ زما خوښېږي، تړاو یې له حاجي ظاهر سره نه و، دا اوس مې هم د ګشت بوټان په پښو دي.

ولسمشرۍ ته یوازې زړورتیا کفایت نه کوي، کافي زیات صفات دي چې سړی یې باید ولري، ستاسې او دوستانو لطف دی، پخواني ولسمشر محترم کرزي صاحب هم مسلسل زما نوم یاد کړی او نوماندۍ ته یې هڅولی یم، د ملاتړ ډاډ یې راکړی، ستاسې په څېر نورو دوستانو هم هڅولی یم.

ما د اقتصاد په برخه کې زده‌کړې کړې، ځکه خو په هر څه کې دقیقه محاسبه کوم، د ځان محاسبه هم سخته ده هم آسانه.

دوستان به زما ځینې کمزورۍ وینې، ځینې نه، خو ماته مالومې دي، د حکومت ستونزې، ننګونې او فرصتونه هم را مالوم دي، په افغانستان کې په دې څلوېښتو کالو کې موږ دومره تاریخ لیدلی، چې نورو په سلګونو کالو کې نه دی لیدلی. که یو څوک د بُرد او ګټنې ټول امکانات ولري بیا هم باید د دقت له اړتیا سترګې پټې نه کړي، زه سیاست کې بوخت یم -د افغانستان له سیاست مې ځان نه دی ایستلی، زما رول شخصي نه دی، ملي دی، هیله ده له یوه قوي ټیم سره ټاکنو ته وړاندې شو- ښاغلی غني مې هم له دغه بحث سره ملتیا ته هڅولی، هیله ده ولسمشریزو ټاکنو ته له قوي ملي هدف سره وړاندې شو -امید دی دغسې یوه لار ومومو- کار ورته کوو، چې زمینه مساعده کړو.

پر ځان د را ټولولو فکر سم نه دی، په هدف باید را ټول شو -سوله زما ستر هدف دی، د سولې او ثبات پر مټ موږ له بهرنۍ اتکا خلاصېدلی شو، د بهرنیانو په شتون کې ثبات نشي راتللی، له بهرنیانو به موږ مننه وکړو چې خپلو هېوادو ته ولاړ شي، د دوی له تلو سره موږ بشپړ ثبات ته ور ګرځېدای او بشپړ استقلال ته رسېدلی شو.

**اوربند: تاسې د عادي کډوال، محصل او سفیر په توګه پاکستان کې وخت تېر کړی، که له خپلو تجربو، موندنو او خاطرو راته ووایاست!**

**زاخېلوال:** مثبتې او منفي یا ښې بدې خاطرې ډېرې دي، خو هیله‌مندې همېشه را سره مله وه، راتلونکې ته هیله مې کله هم له لاسه نه ده ورکړې.

زه د تحصیل له وختونو معلم وم -د کډوالو د ښوونې لپاره مې کار کاوه- په ۲۱ کلنۍ مې کډوالۍ کې (۴۰) ښوونیز مرکزونه چلول -د بهرنیو ژبو د زده کړې یوه لړۍ مې پیل کړې وه، له پېښور تر چترال، کوېټې، میرانشاه، وانه، هریپور، مانسهرې مې پنډغالیو کې د زده‌کړې لړۍ غځولې وه، په سلګونو اُستادان، په زرګونو زده کوونکي له دغو مرکزونو سره پیېلي ول، دا زما د ښو خاطرو وختونه دي، له پښتونخوا، میرانشاه، کوېټې سره مې ډېرې خاطرې او یادونه تړلې -له حجرو او مېلمه‌پالنې یې ښې خاطرې لرم- پر کلي کلي او ښار ښار ګرځېدلی یم، د میرانشاه خلکو ډېری په عربي هېوادو کې له کار و مزدورۍ په رالېږلو پیسو ښې حجرې ابادې کړې، ډېرې پیسې یې پرې لګولې، مېلمه پالنه زما د ښو خاطرو په کتار کې ځای لري -ما د دوی ښه ژوند لیدلی، کله چې پر دوی سخته راغله او خوست ته کډوال شول- د مالیې وزیر په توګه مې ورته له کابینې کومک پاس کړ، د مرستې په سلسله کې خوست ته ورغلم.

د سفارت د وخت هم ښې خاطرې را سره دي -له پاکستاني اړخ سره مې په جدي بحثونو کې له قاطع دریځ سره د هغوی پام را اړولی- هغوی چې د افغانستان په اړه د پالیسیو مسوول دي له هغوی سره مې په زړورتیا او قاطعیت جدي او توند بحثونه کړې، زموږ استدلال او دریځ یې درونډ تللی، په پالیسیو کې یې هم لږ و ډېر بدلون راغلی، په یوه سر مې له لسو پېنځلسو کسانو سره بحث کړی او د خپلو ملي منافعو په دفاع کې مې له چا سترګه نه ده سوځېدلې.

**پوښتنه: ستاسې مشاهدې، مطالعې، موندنو او تجربو ته په کتو، څه تر سره کېدای شي، څه ته اړتیا ده، یا څه په کار دي چې د پاکستان د لاسوهنو مخه ډب او د افغانسان له اړخه مطمین کړای شي؟**

**زاخېلوال:** له بده بخته، برداشتونه منفي دي، له واقعیتونو زیات د افواهاتو او وېرې له مخې دریځونه نیول کېږي، باید د خبرو فضا رامنځته شي -دا ډېر تاثیر لري، په عامه سیاسي او پوځي اذهانو ژور تاثیر لرلی شي -برداشتونه اصلاح کېږي.

لکه دمخه مې یاده کړه برداشتونه پر افواهاتو مبني دي، خو خبرې، مذاکرات او پوهاوی ښه تاثیر لري- دا ما لیدلي، په ټولو اړخونو اغېز لري، د اعتماد فضا رامنځته کوي.

اړیکې کافي ابعاد لري -هغو برخو کې چې ستونزې نه لرو، هغه قوي کړو، لکه ترانزیټ، سوداګري او...

هلته چې کومې هستې او شخصیتونه تر خاورو لاندې دي، ریښې یې له افغانستان څخه غځېدلې، کافي مشترکات موجود دي، زه د اعتماد فضا طرفدار یم -که د وېرې د زاویې له سیاست را ووځو ډېرې ربړې اوارولی شو.

**پوښتنه: د پاکستان پخواني ډیپلوماټان وایي، دوی د افغان پوځ او استخباراتو په پرتله له قبایلو سرحدونو ریاست څخه تنګ وو، اوس چې ریاست د وزارت کچې ته لوړ شوی، له هغه پخواني کش څخه لوېدلی دی، لامل یې په څه کې ګورئ؟**

**زاخېلوال:** پوښتنه دا ده چې ولې د تنګېدو سیاست ولرو -له دې باید را ووځو، څومره ستونزې چې اروپا کې جرمني- فرانسې درلودې، موږ یې نه لرو، د هغوی جګړې، دښمنۍ خورا سختې وې، د افغانستان او لر ملک تر منځ باید په دوستانه شکل ښتانه وصل شي، تګ راتګ آزاد او اسانه شي، راکړه ورکړه وغځېږي، هغه اړیکې چې ستونزې نه لري هغه پیاوړې کړو -تاریخي، دیني، سوداګریز او فرهنګي مشترکات پاموړ وګڼل شي- د اعتماد سیاست رامنځته کړو -د وېرې نه، د فرصتونو له زاویې پرمختیااوو او مسایلو ته وګورو.

**دانش: څو ورځې وړاندې د حقانیه دارالعلوم مهتمم او د جمعیت العلما (س) مشر مولانا سمیع الحق ووژل شو، تاسې له ده سره څو واره لیدلي، دده وژنه څنګه ارزوئ؟**

**زاخېلوال:** زه په آوازو پسې نه ځم او نه باور او علاقه ورسره لرم -حقایق چې بشپړ نه وي واضح شوي، سړی کره خبره نشي کولای.

مولانا په پاکستان کې یو څوک و، دده یو دریځ و، که یو شمېر یې پلویان وو، نو ډېر یې مخالفان هم وو، ما د افغانستان په اړه دده د موقف پر سر له ده سره بحثونه، ان مشاجره کړې، ددغو بحثو او مشاجرو خاطرې را سره دي، په غټو قضایاوو کې دریځونه مخالفتونه هم لري، کېدای شي دده وژل ددغو مخالفتونو پایله وي، شخصي هم کېدای شي، خو دقیقه خبره زما له درک او فهم پورته ده، که څه هم ما کافي ناستې ورسره کړې، په دې هڅه که دده دریځ کې تغیر راشي، دده زما خبرو ته غوږ نیولی، په دقت یې اورېدلی یم، ګډ احترام مو درلود، خپل دریځ او نظر یې هم وړاندې کاوه، د وژلو راز او حقیقت یې ماته پوره نشي څرګندېدلی، دا له پلټنو وروسته ښایي په ډاګه شي او ممکن په ډاګه هم نه شي.





# جانان مې قطر ته روان دی...

# د قطر یونلیک

قطر که د قطرا مصدر وګڼو ـ قطره، قطره دریا میشه ـ څڅک، څڅک لوښی ډک ـ د دې تعبیر خورا ژور او پراخ راوځي او که قُطر یې راواخلو دلته هم د اندازې او کچې مانا ښندلای شي.

وایي قطر له تقطیر اخیستل شوی ـ د باران څاڅکی هغه ـ دا له قطرا تقطیرا څخه دی چې د رحمت باران ګڼلای شي...

قطران د تېلو غازو له تولیداتو راوتلې، ماده هم بلل شوې، چې قطر د تیلو غازو لویه سرچینه ده...

پخوا یې اب مقطر پنسلین پوډر کې د پیچکاریو لپاره کارولې چې تقطیر شوې اوبه یې بللی.

زما چې څومره وس کېده، د قطر په مانا پسې مې د لغاتو کتابونه، ډکشنرۍ او قاموسونه ولټول...

المنجد مې پاڼه پاڼه ولټاوه، د جغرافیې کتابونه مې واړول، خو زړه مې ډاډه نشوای کړای، چې زړه لیونی دی، لکه هغه هندي فلم، دل پاګل هې، دل دیوانا هې ـ د زړه مامله نوکې حساسه ده چې دل تو بچه هې او د زړه رنځو ته نور هم د احتیاط او پام اړتیا ده...

ځکه خو مې خپله د سفر موزې پښو کړې، چې قطر پخپلو ګناهګارو سترګو وګورم، که د قطر په ارزښت او رول خپل سر خلاص کړای شم چې په قطر کې هغه څه دي چې نورو هېوادو، هېوادګوټیو کې نشته...

ما وې که د قطر کمال او أرزښت ولیدای شم چې امریکا، جرمني او طالبان یې ورمات کړې، خو ولسمشر کرزي یې هومره پارولی چې له قطر خپل سفر راغواړې ـ که د جرمني امریکا او طالبانو د غوراوې او ښاغلي کرزي د حساسیت راز او د جذب او ثقل دغه واقعیت ترلاسه کړای شم، ځکه خو مې د سیلاني، لیکوال، ژورنالست نه، د جاسوس په بڼه ځان جوړ کړ چې دغه راز، نه لیکوال نه ژورنالست سپړلی شوای نه سیلاني او ابن بطوطه... دلته د کې.جې.بي او سي.ای.اې په کچه او بڼه جاسوسي اړتیا وه...

په یوه اوونۍ کې مې د اقابکف خاطرو ته ورته ډېری کتابونه ولوستل د مشهورو جاسوسانو خاطرې، یادښتونه مې وکتل، ان د پولیسي او جاسوسي ناولو پاڼې مې واړولې ـ په ځان ډاډه بلکې غره وم چې د دغه راز غوټه پرانیستی شم.

تېر کال چې ترکیې ته تللی وم، په راګرځېدو ګل دادا محاکمه کړم چې وایه د څه لپاره ترکیې ته تللی وې؟

تاسې ته څه پته ده چې موږ څو تنه اړ یو د کور خبرو کې هم ګل دادا راګډ کړو ـ دا زموږ مجبوریت دی، د ده بلک مېلنګ نه دی...

ګل دادا له ما هغسې توقعات لري لکه عمران خان یې له هارون الرشید زړه کې پالي ـ هغسې خدمتونه چې هارون الرشید یې د عمران لپاره وړاندې کوي، ځکه خو مې پر سپیناوي ځان اړ لیده ـ له وضاحت پرته نه کېده، چې په قسم دې نشي قانع کېدای...

ده ته څه پته ده چې د نسیم حجازي ناولونو له وړاندې زموږ نسل د ترکیې د کشش په پړیو تړلی.

ما ویل له مودو مې دا هیله وه چې د ترکیې په سیاسي تجربو له نژدې مینه ماته کړم ـ هغه راز ومومم چې څرنګه طیب اردوغان له اورپکې په مخ اړولو، ولسواکۍ ته په ګرځېدو خپله موخه په لنډه، په اسانه و موندای شوای ـ دا چې دغسې تجربه بل ځای شوني ده که څنګه؟

خو ګل دادا مې خبره نشوای منلی ـ د ده محکمه او محاکمه پوځي ګویا صحرایي او د کورټ مارشل پر بنسټ ولاړه ده ـ که ملکي محکمه وای له اعتراز حسن قابل وکیل مې ورته موندلای شوای...

ګل دادا ګڼله چې ګڼې کومه ماملہ کې ترکیې ته تللی یم...

دی دومره شکاک ختلی چې پخپلو استخباراتو، غلام بچه ګانو هم ناباوره شوې، ځکه خو یې زما خبره زړه ته نه لوېده راته کړه یې: بیا دې سفرنامه څرنګه نه ده کښلي ؟

ـ د سفرنامو کار مې پرېښی چې ملا خورک شوی ـ هسې هم اوس د سفرنامو کښلو ته لیکوال د سفر پر کړاو ځانونه اړ نه ګڼي ـ داسې لیکوال شته چې ځای پر ځای یې یونلیکونه کښلي...

پر مارکوپولو دا تور پورې دی چې خپله سفرنامه کې یې د چین دیوال نه دی یاد کړی، وایي چې څوک چین ته تللي او د چین دیوال یې نه دی لیدلی ګویا له سره یې چین نه دی لیدلی ـ لکه چا چې لاهور نه دی لیدلی ګویا زیږېدلی نه دی...

له همدې ځایه نقادانو پر مارکوپولو پسې را اخیستي چې چین یې لیدلی نه دی یونلیک یې کښلی. زموږ پر ځینو ښاغلو هم دا تور لګېدای شي چې له سفر پرته یې یونلیکونه کښلي ـ یا یې د ایران، توران یونلیکونه پښتونخوا کې لیکلي ـ د رحمان بابا وینا ده:

ابخور لکه اسیا پر ځای رارسي
په خپل ځای مې هم سکون دی هم رفتار

د ترکیې سفرنامې له وړاندې هغسې سټو کښلي چې ما ورته وار له مخه وسله غورځولې ـ دلته به زما لیدلي پیکه راختل یا د هغوی اورېدلي پخ ـ دواړو ته مې زړه نشوای ټینګولای...

د ګل دادا نیوکه ترکیې ته زما په تګ نه، د سولې د ماملې پر سر ده، چې دی د سولې پر پرتله له نوک جنګولو خوند اخلي...

ځکه خو دا ځل له محاکمې وړاندې ځان پر سپیناوي اړ ګڼم، چې بل ځل د ګل دادا د پوځي، صحرایي محکمې توان نشم لیدای...

د نولسمې پېړۍ نخچو کې قطر نشوای تر سترګو کېدای ـ د اوسنیو نخچو پر مخ قطر داسې برېښي لکه د کوم سند پای کې چا ګوته «فېنګر پرنټ» لګولې وي ـ که لږ څېر شې څاڅکی یې هم ګڼلای شي ـ قطر د وچې

يو ځاځكى دى، دريو خواوو ته يې اوبه ـ يوه اړخ يې له سعودي سره لګېدلى. لوېديزوال تر اوسه د قطر په سم تلفظ کې پاتې دي...
وايي د بحرين يوه شهزادګى له کوم امريکايي سره په تښتېدو امريکايانو ته د بحرين د سپېلېنګ او اکسېنټ په ښودلو نږدې زاره چاودې شوې وه...
ما وې که هغه ليکوال شاعر ومومم چې له ټولو وړاندې قطر ته تللى ـ له عطا الحق قاسمي پرته بل څوک دا ادعا نه ده کړې، خو عطا د قطر يونليک نه دى کښلى ـ په داسې حال کې چې پر لسګونو سفرنامو سربېره يې د لاهور يونليک خپله د يوه بهرني سيلاني له خولې کښلى...
قطر ډېرى وړتياوې لري ـ ځکه خو د سولې خبرو ته په قطر توافق رامخې ته شوى، خو د سفرنامې لپاره هېڅ نشي په کې موندلى ـ که نه عطا الحق قاسمي به هرومرو يونليک کښلى واى...
بله دا چې ګل دادا خپله سفرنامې مسخره کړې ـ يو ځل له تا کال په راستنېدو هغسې ستمېده لکه د ورځو شپو له سفر راګرځېدلى وي، پر شفق يې غبر کړ، هله قلم کاغذ راکړه...
ـ څه يې کوې؟
ـ له تاکال راغلى يم، سفرنامه کاږم...
که الجزيره تلويزيون نه واى د قطر دغسې ښېګنې په اسانۍ نشواى ځلېداى، ځکه خو بوش پر الجزيره تلويزيون د بمبارۍ خوب ليدلى و.
ملګرې پوښتنه وکړه قطر کې څه کوې؟
ـ که د څه کولو خبره واى افغانستان ته به تللى وم او که د نه کولو واى بيا هم له افغانستان پرته وړ ځاى نشواى موندل کېداى...
ـ زه چې کله الوتکې ته وخېژم له غورځېدو يې زيات د تښتولو ((هاجېک)) وېرې اخيستى وم.
د طالبانو وخت کې چې اريانا الوتکه يو لغماني عمرزيوال لندن ته وتښتوله، ډېرى سورلۍ يې لندن کې پناه واخېسته، له دې وروسته اريانا کې د سفر ټکټونه تور بازار کې هم په ګرانه ترلاسه کېداى شواى ـ يوه شکي سړي ماته هغه مهال ويل: دا کار دستوري شوى چې د پبلېسټي او اډورټايزمېنټ (اعلانولو) له امله پر اريانا مساپر ورمات کړي ـ وايي يو سړي مياشت کې اويا واره په دې هيله اريانا کې سفر کړى و که بيا يې څوک لندن ته وتښتوي خو اى بسا ارزو که خاک شد...
قطر ته سړى د دوبۍ په تلوسه ننوځي، خو نه به کوم سيلاني وګورې نه سړې سپينې ځېرې ـ دوبۍ کې که د هر هېواد ښځينه ليداى شي، قطر کې د هر هېواد د نارينه وو پريماني ده، لکه قطر يوازې د نارينه وو هېواد وي، دا يو لامل خو يې ما پر لومړۍ ورځ هغه هم به اسانۍ کشف کړاى شو.
د خبرو لپاره د قطر غوراوي له دې امله چې امريکا، جرمني، طالبان بلا بلا ... د سمې چارې لپاره غلط او ناسمې هغه ته د سم ځاى له کړاو ژغورل شوې وي...
يوه ملګرې ماته د دوبۍ د هوټلونو دومره بد ګړې ويلې چې په سړې ښې لګېدې ـ ما ځلور کاله په دې خواريو واړول که هېواد ته په تلو راتلو مې دوبۍ کې سټې (ځنډ) دومر وغزېږې چې د هوايي شرکټ په پيسو هوټل کې د يوې شپې اړولو چانس ترلاسه کړاى شم.
خو د قطر هوټل ټول له ښېګڼو ډک دي ـ موږ چې کوم هوټل کې مېشت وو دوه سوه خونې يې لرلې ـ قطر کې د ليدو لپاره له سترګو زيات د زړه اړتيا ده، ګټه يې دا ده که يوازې د سر له سترګو کار اخلې ـ کله به هم ښايست او ښکلا ونشي ليداى... قطر کې اووه کلنه نجلۍ هم له سره تر پښو پرده کې نغښتې وي، داسې ښکاري لکه دلته ميرمنې چادرې کې لامبي...
د قطر هوټلونه پلازمېنه دوحه کې دي ـ که له دوحې وځې د شپې تېرولو لپاره ښايي بېرته دوحې ته ور وګرځې...
دلته ډسکو او نور ترت او لغت په هغسې شوخوان او کړاو موندل کېداى شي په کوم کړاو چې کولمبس امريکا کشف کړې او له امله يې ټوله نړۍ په غضب اوښتې...
زما ملګرې چې د خپل لټون پر پايله او ثمره خورا غره برېښېده، له سلا پرته تر لاس ونيوم ـ هوټل کې يې ډسکو په نامه يوه تياره ګوټ کې کېنولم ـ ژړنې، نجونې عربي ميوزيک ته په ګډه نڅا بوخت ول ـ زړه دا نشواى منلى چې قطر کې هم سړى دغسې يوه صحنه ليداى شي...
چې غوټې پسې وهې په لاس به درشي
چا ويل چې په درياب کې ګوهر نشته
نجونې له ځېرې د تايلنډ او اندونيزيا مالومېدې ـ په ګرانه بلکې له ګرانۍ اخوا د نجلۍ او ژړنې پته لګېداى شواى ـ بيا هم د اجتهادي تېروتنې له شونتيا سترګې نشواى پټېداى...
زه چې امسا وغورځوم، ړېره وسمه يا وخرېيم ـ پر سر ويګ راکش کړم ـ له تاسې څه پرده پنځه ويشت کلن برېښم، دليل يې دا دى چې د حسن په هغه سخته کاختۍ کې هم دريو ځلورو د ډانس په وړانديز نازولم...
زما ملګرې چې له چا سره د ډانس شوق پوره کړى و ـ وروسته ژړنۍ راوخوت په افسوس يې وويل: که ګل دادا واى، ايله به يې زړه يخ شوى و...
د قطر تاريخ پر دوو برخو يا دوو پړاو ويشل کېږي: ما قبل التيل او ما بعد التيل...
اوسنې واکمن له پلار سره د مغلو کانه کړې ـ اورنګزيب خپل پلار شاهجهان له واکه په لېرې کېدو بندي کړ ـ کال پس يې زندان ته ځرې وروليږل چې د قبله پناه احوال واخلي، اړتياوې، غوښتنې يې واورې، شاه جهان يوه غوښتنه وړاندې کړه: که څو تنه ماشومان ورته رالېږې چې ليک لوست ورښيي.
اورنګزيب ته يې چې دا خبره راوړه، ويل: له سره يې لا د پاچاهۍ هوس نه دى کښلى.
د قطر لېرى کړاى شوي واکمن ايله هغه مهال هېواد ته د راستنېدو مخه ومونډل شواى چې د پاچاهۍ هوس يې له سره وتلى و... د خپلې يوې ميرمنې جنازې کې د برخې اخيستو له امله يې دا مخه موندلې وه.
په ۱۹۹۵ خليفه بن حمد الثاني سويس ته په رخصتۍ تللى و، چې زوى يې شيخ حماد بن جاثم الثاني چې دفاع وزير او وسله والو ځواکونو قوماندان و پر پلار کودتا وکړه، دا هم د خبرو لپاره د قطر د غوراوي يو لامل ګرځېداى شي چې د قطر لپاره د کمرشلېزم ښه موقع ده.
جنرال مشرف خپل کتاب کې کښلي: ... د جاپان سفير راته کړه اورېدلي يې دي ملا محمد عمر پر جاپاني موټر سايکل له کندهار پښې سپکې کړې...
ورته کړه مې د اډورټايزمېنټ لپاره ښه صحنه ده، د جاپاني موټر سايکلو پلور او پير ښه ځلولاى شي.
له همدې ځايه وه چې پاکستان له قطر يو په يو ۵۰۰ مليون کوبک اوبلن غاز رانيو ـ خو دا ابتدا په سکون ده...
قطر بل بزنېس دا وکړ چې کابل کې يې د کور بيې او کرايه راټيټه کړه ـ څوک... يې په سر وواهه کوزې يې... وچاودې.
وايي شيخ حامد د خپلو خلکو خوښ دى ځکه د قطر اويا سلنه وګړي بهر مېشت دي...
قطر کې که چا د نوي واده هيله څرګنده او د نجلۍ لپاره يې د اوولس کلنۍ شرط کېښوده ـ يوه شه چې بوډا دى...
د قطر اوبه دومره تروې دي چې که پښې پکې غوټه کړې خوله دې مالګينه شي.
حقه (چيلم) هوټلونو کې د خوړو برخه يا جزلاينفک ګڼلى شي، خو دا د تمباکو او فقير بوټي چيلم نه دى، د بېلا بېلو ګلانو د پاڼو او وچو پټو هغه دى چې کابل کې هم دود شوى دى.
له دوبۍ قطر او له قطر دوبۍ ته د تلونکو الوتکو ډېرى مېلمه پال لکه د طالبانو د وخت نارينه دي. دومره چست چالاک چې که ميلمه پالې ته غبر کړې، دى درته نېغ ولاړ وي، چې دوبۍ کې کوز شي داسې ښکاري لکه الوتکه کوم اروپايي هېواد ته تښتولې شوې.
د طالبانو په اړه وايه شي چې ژړنکي د ځانمرګو بريدو لپاره په حورو تېر باسي، چې دوه اويا او يا که دوه اتيا يې انتظار دي...
چا جوړه کړې چې کوم ځانمرګي وړاندې له دې چې ځان والوزوي، په ډزو زخمي کړاى شو، روغتون کې چې په هوښ شو ـ دوې نرسې يې وليدې، پوښتنه يې وکړه اويا نورې څه شوې؟
ځلوېښت کاله وړاندې يو سړي د الوتکې سفر له راګرځېدا ويلي و: مولوي صاحب رښتيا وايي چې د مومن روح اسمانو ته وخېژي حورې يې هرکلى کوي...
دريمه ورځ راباندې يو خوستوال انډيوال پېښ شو ـ ده خپلې ډېرې ته بوتلو، ويل قطر زموږ په وينو او خولو اباد شوى...
ـ په وينو څرنګه؟ ويل زموږ وينې له خولو سره راوتلې ځکه اوس د وينې رنګ سپين شوى.
د ده په وينا څلوېښت کاله يې پلار دلته په کار مزدورې اړولې ـ اوس له يوولسو کالو دى، پر کار، مزدورې بوخت دى، هغه مهال دا ځاى دښته وه...
سړي ته عجيبه ښکاري زموږ خپل هېواد وران ويجاړ پروت دى ـ پردي ابادوو په بله وينا خپل ورانوو ـ نور جوړ وو او خپلې پانګې بهر ته تښتوو...

## جانان مې قطر ته روان دى، پر دغه سندره به نږدې نيمه پېړۍ اوښتې وي. که د قطر د ارزښت او رول په اړه وړاندوينه نه ده بيا څه ده؟





# له مېرمنې سره مو د معاشرت آداب زده کړئ!



ژباړه: حميد الله حميدي

**ډېرى نارينه کله، چې په ټولنه او يا هم کاري محيط کې وي، له خلکو او خپلو همکارانو سره ډېر په زړه پورې، صميمي، او له مينې ډک چلند کوي، چې له نيکه مرغه دا يوه ښه عادت دى او په دې سره يې ورځ تر بلې د ملګرو شمېر هم زياتېږي. خو له بده مرغه، کله، چې دغه کسان کورته ننوزي، دا هر څه له دروازې بېرون پرېږدي، داسې رفتار او خبرې کوي، چې په يو ډول نه په يو ډول يې د مېرمنې د آزار او خپګان سبب ګرځي. ډېره کله دا خبرې ان د بې ادبۍ تر سرحده پورې رسېږي، خبره دومره له چوکاټه وزي، چې آن مقابل کس يې هم د زغملو توان له لاسه ورکوي...**

...ولې بايد له مېرمنو سره د معاشرت آداب مرعات کړئ؟
هغه څه چې موږ د خپلې مېرمنې پر وړاندې تر سره کو له پوره قوته او اهميته ډک دي. ځکه کله، چې موږ له خپلو مېرمنو سره ښه چلند کو دا په دې مانا ده، چې هغوى موږ ته ارزښت لري او دا څه دمېرمنو لپاره تر هرڅه ارزښناک او د قدر وړى دي، دوى احساس کوي، چې خاوند ته يې څمره مهمه ده او د خاوند په شتون کې د پوره ډاډ او امنيت احساس ورته پيدا کېږي. کله، چې تاسو خپلې مېرمنې ته په احترام قايل شئ او درنښت ورکړئ، معلومه خبره ده، چې دوى دوه چنده له تا سره ښه چلند کوي او په درنه سترګه درته ګوري. دا څه يوازې د مېرمنو کار نه دى، بلکې که تاسو په هر ډول محيط کې له خلکو سره ښه چلند وکړئ، نو په بدل کې به يې ښه چلند وينئ. دا خبره سمه نه ده، چې وايي «ښه مه کوه بد نشته» بلکې اصلي خبره دا ده، چې وايي « انسان د احسان تابع دى» که دې ښه وکړل په بدل کې به يې ښه وينې او که خداى مه کړه له چا سره بد چلند وکړئ، نو بيا د ښو تمه هم مه ترې کوئ. څېړنو ثابته کړې ده، چې د نارينوو په نسبت ښځې څو چنده پر خپلو مېړونو مهربانه دي. کېداى شي ځينې وخت د مېرمنې لخوا هم له خاوند سره بد چلند وشي، خو په ګډ ژوند کې دا هر څه ممکن دي او بايد د دواړو ترمنځ د خبرو له لارې جوړ جاړى وشي، مشهوره خبره ده، چې وايي« که يو کس د بام پر سره يوازې ژوند کوي، بهتره داده، چې له يوې ژبورې ښځې سره تر چت لاندې ژوند وکړي» مېړونو ته هم لازمه ده، چې ټل د خپلو خبرو واک په خپل لاس کې واخلي، ټل متين او با وقاره اوسي. د يوه نارينه لپاره لازمه ده، چې هر موقيت ته په کتو سره خبرې وکړي او خبرې يې د دې سبب نه شي، چې خداى مه کړه د چا د ازار سبب وګرزي.
په کورنۍ کې بايد څه ډول د معاشرت آداب پلي کړئ؟
د معاشرت کوم آداب، چې په کورنۍ کې بايد مراعت شي له هغه سره کامل توپير کوي، چې هغه په ټولنه، کاري محيط او يا هم له کوم بېګانه کس سره تر سره کېږي. کېداى شکه کله په کور کې تاسو په غوسه وئ، خو کله، چې دروازه ټک ټک کېږي زر تر زره بايد د خپلو خبرو لهجې ته بدلون ورکړئ او په ډېره نرمه او له مينې ښخه په ډکه لهجه او خلاصه تندې له راغلي کس سره خبرې وکړئ. له دې ليکنې څخه مو موخه داده، چې له هر چا سره بايد د خبرو کولو ځانګړى طرز په پام کې ونيسئ په ځانګړي ډول له خپلې مېرمنې سره، ځکه هغه ستاسو د ژوند شريکه ده، که تاسو د خپل ژند له شريکې سره ښه اړيکه ونه لري، نو مه هېروئ، له خپل ژوند څخه په هېڅ صورت سره خوند نه شئ اخيستى، او بلاخره دا څه د دې سبب ګېږي، چې اولادونه به مو هم په ښه روحيه نه وي روزلي او ان ډېرى وخت کېداى شي ستاسو په کورنۍ کې د درز لامل وګرزي.
د دې لپاره، چې پوه شئ تاسو په خپل کور کې له مېرمنې سره په اصولو او د ادبي معاشرت په چوکاټ کې خبرې او چلند کوئ که نه؟ بايد دې پوښتنو ته ځوابونه و وايى.
مېرمن مو ستاسو د خبرو او ورځني چلند په اړه څه احساس لري؟
ستاسو چلند ستاسو د مېرمنې په عزت نفس باندې څه تاثير لري؟
مېرمن مو د يوه نعمت په سترګه درته ګوري او که په شتون مو شرمېږي؟
دغه پوښتنو ته په ځواب ورکولو سره به درته جوته شي، چې تاس څه ډول کس يې، که پوه شوئ، چې تاسو په سم ډول له خپلې مېرمنې سره د معاشرت د آدابو له مخې پر مخ نه ځئ، نو لا هم وخت لري، چې خپل ځان جوړ کړئ، تر څو له پاتې ژونده خوند واخلئ.
څه بايد وکړئ؟
تاسو په دې پوهېږئ، چې مينه ګوستاخي نه بلکې د ښه ژوند لپاره تر ټولو يوه ښه لاره ده. که په ريښتيا هم له خپلې مېرمنې سره مينه لرئ، نو ضرور بايد له هغوى سره د معاشرت آداب هم زده کړئ. د دې کار د کولو لپاره تر ټولو مخکې له هغه کارونو لاس واخلئ، چې د مېرمنې د خپګان او آزار سبب مو ګرزي.
په دې ځاى کې درې شيان دي، چې له تاسو سره مرسته کوي، تر څو له مېرمنې سره مو د معاشرت آداب زده کړئ.
۱- تر ټول طلاى لار: له مېرمنې سره مو داسې چلند وکړئ، چې تاسو يې هم د کولو تمه ترې لرئ.
۲- ټل يو ډول چلند وکړئ: کله چې تاسو له کوره بېرون، په ټولنه، کاري محيط، له نېږدې ملګرو سره څه ډول چلند کوئ په کور کې هم په هماغه ډول خندان او مينه ناک اوسئ.
۳- تر وسې پورې يې سالمې غوښتنې ومنئ: هغه څه، چې مخکې مو مېرمنې در څخه غوښتي تر اوسه مو نه دي تر سره کړي، بيا ترې وپوښتئ، دغه څه هم ور سره شريک کړئ او قناعت ورکړئ، چې غوښتنې يې بايد په داسې سرحد کې وي، چې ستاسو له وسې سره پوره وي، ډاډه يم، کله، چې له خپلې مېرمنې سره په سم ډول چلند وکړئ، په هر ډول در سره ګزاره کوي، ځکه چېرته چې خوښي وي، هلته بيا مادياتو ته دومره ارزښت نه ورکول کېږي او معلومه خبره ده، چې خوښ ژوند په ډېر پيسو او مادياتو کې نشته، يوازې موږ خپله کولاى شو، چې د ځان لپاره د خوښ ژوند زمينه برابره کړو او بس.
دا ژوند خو زموږ کم د محبت لپاره هم دى
حيران يم، چې نفرت ته وزګارېږي خلک
څنګه.

## د ژوند وړې لارښوونې

جاکسون براون - ژ/ سپين سهار

۱ - نوي دوستان پيدا کړه، خو زاړه هغه زړه ته ډېر در نږدې لره؛
۲ - کال کې يو ځل- دوه وينه ورکړه؛
۳ - راز ساتونکى اوسه؛
۴ - ډېر انځورونه واخله؛
۵ - پر زېږ ورځ دې يوه ونه وکره؛
۶ - کله کله يې نورو ته ور زده کړه؛
۷ - کله کله يې له نورو زده کړه؛
۸ - غاښ تار (Dental Floss) وکاروه؛
۹ - کله هم بد خُلقه کېږه مه؛
۱۰ - دوستان دې د ډاليو په ورکړه خوشحاله کړه؛
۱۱ - له بدو شرايطو هم ښه ګټنه زده کړه؛
۱۲ - چې په تېرو دريو کالو کې دې نه وي اغوستي هغه جامې دې خيرات کړه؛
۱۳ - زړه ور اوسه، که څه هم نه يې! خو هسې ځان زړور نيسه، هېڅوک به دربانديې پوه نشي؛
۱۴ - در اوږد شوى لاس ښه ټينګ کړه؛
۱۵ - سايکل سپرلي وکړه؛
۱۶ - کنايې مه وايه؛
۱۷ - کله يې هم هېر نکړې چې په کاروبار او کورني ژوند کې باور تر ټولو ډېر ارزښتناک دى؛
۱۸ - له نورو سره پټ ښه وکړه؛
۱۹ - د هېواد اساسي قانون ولوله؛
۲۰ - يوازې هغه کتابونه نورو ته امانت ورکړه، که نه وي، زړه دې پسې خپه نشي؛

# د ارګ ټپوسان

## د ولسمشر پخوانی ساتونکی ډیوېډ کلارک یادښتونه

ددغو یادښتونو ځینې برخې له لندن خپرېدونکي ملي هېنداره کې خپرې شوې

### د سلاکار نڅا

که ښاغلی د متحده ایالتونو ولسمشر وای... څه پېښېدای شوای؟ قیامت؟ مهمه دا چې دغسې یوې هیلې د رژېدا موندلی شوای...؟ افغانستان کې بخت، تصادف او چانس ټاکوونکی خېژي ـ دا عجیبه هېواد دی، دلته وراني ویجاړي دي، خو د خوبونو نړۍ اباده ده، د عمل خواري ده، فقر دی، بېوزلي ده، خو پانګې قیامتونه راټېټ کړي دي...

ما دا خبره د یوه وزیر مخې ته کېښوه، د یوه مفکر خبره یې راواخېسته: «... غلام له خوبه مه لټوي، ښایي د ازادۍ کوم خوب ووینې...» زما د ده پر دغه تشریح (!) سر خلاص نه شو، که داسې وي افغانان د دغسې خوب په هیله د خپل زړه او ذهن سترګې پټې ساتي...

زه اوس هم له ځانه پوښتم څرنګه مې زړه کې دغسې خبره ګرځېدای شوای...؟ځکه چې زه له څه مودې د خوبونو نړۍ کې مېشت یم... د ډګرمن جان سمېت دا خبره بېځایه نه، بېخي ناسمه ده چې په رسمي او نارسمي بنډارو کې ولسمشر خیله او ساده معرفي کوي ـ ان چې د خپلې مدعا د اثبات لپاره ځینې خاطرې او کیسې هم وړاندې کولای شي، زما په اند دا د ډګرمن ظریفانه مزاج دی چې پر ده د طنز دغسې صلاحیتونه لورولي دي...

یوه خبره ده، هغه دا چې دلته حکومت له ټولو ګران خو له هر څه اسان دی، چې له حکومتي لویانو د پوښتنې مخه ټړلې ده، نه پړه، نه مسوولیت...؟

ګران په دې چې ټول د پیسو پیدا کولو، چوکۍ ساتلو او ولسمشر د ننګې او ملاتړ تر درانه فشار او بار لاندې خولې، خولې دی. دغه بار دومره دروند خېژي چې د سړي ملا بوټه ماتوي، د پیسو پیدا کولو تلوسې یوه جل وهلې تنده راپورته کړې، یو ډول ډېفرېشن یې د حکومتي لویانو ترمنځ غوړولی. دغه سیالي یې لکه موډ خپره کړې او رواني ناروغي یې رامنځ ته کړې ده، د پیسو پیدا کولو سیالي... د کمېشن ترلاسه کولو مسابقه... د ولسمشر د باور ترلاسه کولو رقابت... زما په اند دغه وضعیت د منفي سیالۍ هغسې فضا رامنځ ته کړې چې د ارګ انساني سیرت یې مسخ کړی ـ هر خوا مسخ شوي څېرې غورځي، ارګ د مسخه شویو څېرو په عذاب کې ښکېل دی، داسې ښکاري لکه پر مرداره راټول کارغان ـ کڼاځان...

پر دغه لویه او خوسا مرداری راغونډ ټپوسان لګیا دي یو بل پر سر، سر په ټونګو وهي... ټول پر سر غیر حاضر ښکاري... ځکه خو ارګ سړي ته له اخلاقي معیارونو ستومانه او خالي ښکاري، دروغ، دوکه، ټګي، دوه مخي د ارګ د وجود څلور ستنې یا عناصر اربعه ګرځېدلي، دلته ده چې ټول یې د هوس بندیان او بندګان ګرځولي.

ولسمشر ذهین دی... هوښیار، ځیرک او که ووایم چالاک دی، چې کله هم پر زړه او خوله یوه نشي ساتلای، خو بلا کوي د زړه او خولې جلا لارې، بېل سفرونه یوه منزل ته را اړولی شي... که وغواړي سملاسی خپل نیت، موخې، خوښه ناخوښه تر خپل پوست لاندې نغښتې او پټولای شي.

وایي هوښیاره مرغۍ له غبرګو پښو لومه کې نښلي ـ ښایي دا یو وهم وي او د هوښیارۍ پر خلاف د ناسم غبرګون تلوسه...؟

زه نه پوهېږم د ده کومه ادا زما پر زړه دومره نغده لګېدلې چې د غسې هیله او وهم یې راټوکولای دی...

بس زړه دې، چېرې څېره، کله شخصیت، پوهه، هوښیاري او کله سادګي ورته لار ومومي...

افغانستان کې هر یو خپل ځان کې ورک دی، د خپلو ګټو سمندر کې ډوب دی، دلته وایي: اول ځان دی، بیا جهان ـ چې ځان دی نو جهان دی ـ دلته ځان پسې د جهان راکاږلو جنون لګېدلی ـ ځکه خو ځان تر دغه وېر جهان لوړ او لوی ګڼي چې پر پچه وخېژي کشمیر ګوري ـ لکه په دې نړۍ یې سترګه نه ډګېږي، دا حرص نه دی نو څه دي...؟

د خوب او خیال پلو ترمنځ توپیر څرګند دی، له بده بخته افغانستان کې د خیال پلو اشتها د خلکو سر ته ختلې، چې وریجو ته یې پلو چلو، قابلي... بلا نومونه ورکړي...

سړی حیران شي ولسمشر د افغانستان او افغانانو نېکمرغي وبولي که بدبختي...؟ جګړن رابرټ سیل ـ ښاغلي د امریکا بدمرغي ګڼي ـ ده کې د خیر او شر بلا صلاحیتونه شته، خو افغانستان او بیا د ارګ چاپېریال داسې دی چې د خیر په پرتله په کې د شر وزرې ژر غوړېدای شي...

خو دا پرېکړه به و خت کوي که تاریخ؟ چې نه وخت د چا تابع کېدای شي، نه تاریخ...؟

د ځینو پېښو او پرمختیاوو پر وړاندې د ښاغلي زغم د نارمل انسان له وس لوړ ښکاري، دغسې د ځینې حساسو هغو په اړه کرخت احساس او سوړ غبرګون د ځای او وخت په پېژندنه کې د ده بې توپیري او یو ډول بې کفایتي په ګوتو کوي، دغسې حالت کې ده ته ځان معصوم ښکاري چې یو ډول رواني ناورغي ګڼلی شي ـ داسې چې د بل په پرتله له ځان غولولو ډېر خوند اخلي...

د ځان غولولو او شیطان غولولو توپیر څرګند دی...؟ ځینې د خپل ځان شیطان شي...

ما داسې ګڼله چې د پانګې هوس د لویدیز پر سترګو د هوس پرېږې پر دي غوړولې، هر څه کې د سوداګرۍ تلوسې او د ګټې لټون زه بېخي ستومانه کړی وم، ژوند له یوې مخې مصنوعي بڼه خپله کړې وه...

ماوې که افغانستان کې د روحانیت کوم څرک ولګولی شم، خو توبه توبه...

دلته مې دغه هوس یوه ډاروونکې بڼه او موډ کې وموند ـ دلته د پانګې هوس پر زړه، ذهن، ضمیر منګولې لګولې ـ په هر ګام، هره منډه، هر سفر کې د دغه لوبې د سیالۍ حرص جوت مومي، داسې چې د یو ملت او هېواد ارزښتونه یې یرغمل (هایي جیک) کړي دي.

ځکه خو دلته پر یوه وخت څو جګړې غزېدلې، حکومت او ادارو کې دننه د دغه جګړې لمبې ژبغړانده دي ـ خطرناکه هغه یې د ګټو جګړه ده ـ داسې یوې جګړې حکومت او نړیواله ټولنه د ترهګرۍ جګړه کې خورا کمزوري کړې ده.

هو! دلته د څو جګړو لمبې ژبغړانده دي، د پاکستان هند جګړه، د ایران، خلیج، لویدیز او چین جګړه ـ د مارکېټ او اقتصاد سیالي او شخړه...

دغو جګړو او سیالیو ته دلته ډګر او سنګر دواړه شته، چې حکومت ظاهراً د دموکراسۍ په ارابو چلېږي، خو پر دغو ارابو د ډیکټرشېپ بادې ولاړه ده، اداري او سرکاري چاپېریال د سهامي شرکتو دی، کرزي اینډ کمپني، فهیم اینډ کمپني، دوستم اینډ کمپني او...

د هر چا خپله ونډه، ګټې، موخې، سلیقه، خوښه ناخوښه ده چې یو ځانګړي سیستم یې رامنځ ته کړی، هغسې چې د نړۍ سیاست کې یې تر اوسه بېلګه نشي موندل کېدای.

د دغسې نظام او سیاست په اړه د لویدیز او امریکا دا لومړنۍ تجربه ده، افغانستان د دغسې تجربو ترټولو ښه لابراتوار ګرځېدلی، له بده بخته چې هره تجربه ناکامه ختلې...

دلته د کار او بري لپاره د عمل، زیار او انرژۍ په پرتله، بخت، تصادف، تصادم او دعا پاموړ پېژندل کېږي، په داسې حال کې چې د کار او بري نوې سلنه ځواک او تکیه خپله وګړو او ټولنه کې ده، خو د دغه هېواد پینځه نوي سلنه بهر ته ګوري، بل ته یې سترګې نیولې وي... زه ګورم چې ورو ورو د دغو وګړو خپل ځواک، د نوښت باور او ډاډ زیانېږي ضایع کېږي...

وایي د الله تعالی دربار ته ملایکو د بېلا بېلو هېوادو، سیمو د حالاتو رپوټ وړاندې کاوه... جاپان کې د زلزلې، خبر امریکا کې د سونامي، چین کې د سیلاب او فرانسه کې د ....

په دې کې یوې پرښتې افغانستان کې د زلزلې رپوټ وړاندې کړ...

الله تعالی وفرمایل: هله، ژر کوئ، مرسته وکړئ...

پرښتو پوښتنه وکړه ـ جاپان، چین، امریکا او ... کې مو د سېلاب، زلزلو، سونامي او ... په اړه د مرستې دغسې حکم ونه کړ...؟

الله تعالی وفرمایل: هلته خلک خپله و ار له مخه وقایوي چارې ترسره کوي، خپل کار خپله کوي، خو افغانان دا هر څه ماته پرېږدي، پر ما یې کوي... ځکه...

دغه هېواد همېشه د لویو وړو لوبو، ډرامو لوبغالی او ستېج ګرځېدلی، د لوبو بڼه، کچه بل ځای ډیزاین شي، ریفري له بل ځای راغلی وي، یوازې د ډرامې پښتو دري ژباړه دلته... ځکه خو د بري کرېډټ بل څوک وړي، خو ماته د دوی غاړې ته لوېږي ـ د لوبغالي چټلي او کثافات دوی ته ورپاتې شي... له لوبو ننداره کوونکي نور دي، ټکټ بل چا لګولی، چک چک د نورو، سټه بازي، شرطونه بل ځای لګېږي.

دلته لوبې او جګړې پر همدغه بڼه غزېدلې، کله لوبو د جګړو بڼه خپله کړې، کله جګړې لوبو ته ورته ختلې ـ سړې، تودې جګړې دواړه دلته تجربه شوې...

دلته لوبې له جګړو خطرناکې ختلې، هرې لوبې یوه جګړه راپورته کړې ـ هره جګړه پر یوه ډرامه درېدلې، د ډرامو، لوبو، جګړو غوبل او غویمنډ یې رامنځ ته کړی.

عجیبه دا ده چې نه چا په جګړو شل کړه نه یې د لوبو وړې شړې کړای شوه...

جغرافیې پر افغانستان یو جبر مسلط کړی او د دغه هېواد پر اوږو یې له مودو د پرله پسې یرغلونو دروند بارغورځولی دی... په داسې حال کې چې تاریخ هم ورسره روغ نه دی چلېدلی...

دلته د بهرنیو د ګټو سیالیو، خپل منځي تربګنیو ډرامو، لوبو او جګړو ته مخه ورکړې او ترمنځ یې فاصل خط له منځه وړی...؟

افغانستان وچه کې پروت هېواد دی خو سرو سیلیو او تورو برېوکیو له وختونو هورې د ناکراریو د سمندر څپې توپاني ساتلي...

پوښتنه دا ده چې پر دغو خلکو او خاوره څرنګه یو په بل پسې دغسې ناکراري تپل کېدای شوای؟

شوروي اتحاد دلته څه غوښتل، امریکا څه غواړي... پیرنګی څه...؟

زما په اند نه شوروي اتحاد دلته کمونېزم غوښت، نه امریکا دموکراسۍ ته ژمنه راختلی شي...؟

شوروي اتحاد خپلې جنوبي پولې تر ګواښ لاندې ښوولې ـ لویدیز د ترهګرۍ پر ضد جګړه...

شوروي اتحاد خپلې جنوبي پولي خوندي کړای شوې...؟

امریکا د ترهګرۍ پر ضد جګړه کوم ځای ته ورسوله...؟

بیا دا غوښتنې څه کېدای شوای...؟

پر تور سمندر د شوروي د وزر غوړولو خوب...؟ که په سیمه کې د امریکا د سیاسي، اقتصادي ګټو خوندیتوب.

دا ځکه چې د افغانانو خپلې ملي ګټې نشته... دلته همېشه د نورو د ګټو جنګ قیامتونه راټېټ کړي دي.

پوښتنه دا ده چې امریکا اسیا کې د محوري سیاست لپاره دلته خپله پښه ټینګوي...؟

د چین کنټرول غواړي ـ له ایران د انقلاب صدر ورته ډب غورځوي؟

د اسیا نوي مالي نقشې او مارکېټونو لټون ته یې کار ویلی...؟

ماته په دغه معصومیت خندا راشي چې وایي امریکا جګړه د نوي دښمن د لټون په تلوسه پیلوي، لکه جګړه د متحده ایالاتو مجبوریت اوسي؟

له ما وړاندې پر دغه دروازه او مانۍ شوروي پوځیانو پیرې لګولې دلته شوروي ګارډ ولاړو... اوس د امریکایي پوځیانو د غټو بوټانو خرپې خېژي...

# د ننګرهار والي څنګه روان دی؟؟

لیک: ننګرهاری

دا هغه پوښتنه ده چې زما یو نږدې ملګري ما نه په یو کتابتون وکړه ما ورته په ځواب کې وویل چې زه د ننګرهار د والي صاحب په رابطه کره معلومات نه لرم، د علیک سلیک او د لاس د نه ورکولو ترڅنګ مې له نږدې هم نه دی لیدلی او زما دا بلا وهلی فطرت د چاړواکو سره د بلدتیا پر ځای د خاموشي مشوره راکوي، پردې به مې نه ګرموي، زه د دې هېواد یو رنځېدلی او ځورېدلی بچی یم او تر هر چا پرې ډېر خفه کېږم، خو والي صاحب راغلی ډېره یې نه اوږده وم چې د اوربند مجلې حوصله به راسره یاري و نه کړي، والي صاحب طبیب لمړی د رنځور رنځ معلوموي او بیا درمل ورکوي، خو ته د درمسال د غاړې تش په نامه طبیبانو په څېر خلکو ته پخپل سر دواګانې ورکوي او د خپل سر و دوایانو پایله اکثر ښه نه راوځي او د کندهاریانو خبره چې پر غلطه یې زه د ننګرهاریانو په نظم پوهېږم چې دوی څه غواړي امنیت او سوله غواړي. د اداري فساد ختمول غواړي.

غاصبان د قانون منګلو ته سپارل غواړي، داخلې بې ځایه شوي پر ځای کول غواړي، تعلیم غواړي او صحت غواړي زورواکانو او ټوپکیانو ته پناه غواړي ـ پاکستانی کلداري بندول غواړي، سرپناه او روزګار غواړي د مافیایي کړیو څخه د ځان خلاصون غواړي او ستا په څنګ کې د کنایو مدحانو نه امان غواړي: والي صاحب ماته یو ټوکه رایاده شوه د جماعت یو امام د نیت تړلو سره سم په احتیاتو شروع وکړه مقتدي پرې ور ناري کړې چې استاد د ناستې شی دی په ولاړه وویل ته چې څه کوي نو ماته امام او مقتدي دواړه مخې ته ودرېږي، ګران والي صاحب پام کومه چې پر ما بدګماني و نه کړې، زه ستا پوست او مقام ته کاندید نه یم.

که په دې ذکر شوو لسو کارونو کې پر هر کار بریالی شوی یې، اولس ته عملي وښایه چې په بله لیکنه کې دې ونازوم، اوریدلي مې دي چې د والي په صفت د خپل کلي او کور له لیدلو او تګ راتګ نه هم محروم یې ته کمبخت چې په دې حال نو هغه درې میلونه انسانان چې ته پرې حاکم یې د هغه خورانو به څه حال وي یو چا راته ویل چې جبرانه ته رښتیا هم بې خبره یې د دې خوار د بې وسۍ له وجې د کابل هډه د ولایت مخې ته راغله، خو دا ښاغلی د امیر عبدالرحمن خان به لاس د جوړې شوې مانۍ له راوتلو هم بې برخې دی یو میاشت کېږي چې ټول ننګرهار په تیارو کې ډوب وه په سلګونو کارخانې بندې او په زرګونو انسانان بې روزګاره شوي: ته چې د یو تار د برېښنا د رغولو واک نه لرې نو هغه د پوره واک سره راغلی والي څه شو. والي صاحب دښمنان مو په ودونو، حجرو، جوماتونو، هدیرو او په سرکونو مزې پرې کوي د جلال اباد او طورخم پر لاره مسافرین په ځانونو صورتونه چڅوي چې له اختطاف چیانو روغ وزي.

والي صاحب چمتله غصب شوې، شیخ مصری جوړ شوی، بهسود او دامان قبضه شوي، د کابل هډه چور شوې، درونته ـ سرخ دیوال ـ د .... ښارګوټی د افسرانو ښار ګوټی د شیرزي ښارګوټی، د خانم اباد ښارګوټی، د معلمانو ښارګوټی، د هډې ښارګوټی، د کابل او کونړ د سیند غاړې د سیاف ښارګوټی او داسې په لسګونو نور لوی واړه جایدادونه سره د ننګرهار کانال د زورواکي په واک کې دي او ته ښاغلی په ښار کې پارکونه جوړوې، زه د پارکونو مخالف نه یم، خو دا یې وخت نه دی، ما د طالبانو د حکمرانۍ په محال د هغوې مشر ته هم دا مشوره ورکړې وه چې ډاکتر ته طبیب ویل ـ مکتب ته د مدرسې نوم ورکول او د څو جوماتونو جوړول او رنګول د افغانستان د مسلې اساسي او سیاسي حل نه دی.

تاته هم وایم چې د یو څو کتارو جوړول او رنګول او ځان نه د سمتو دیوالونه تاوول، د ننګرهاریانو درد نه دوا کوي، اساسي مسایلو ته مخ کړه، د ښوونځیو شاګردانو د کال اخري امتحانونه د داعش او طالب له ویرې نه دي ورکړي، دلته هر کور شهید لري، یتیم لري، کونډه لري، خلک ځان ته په مړه ګېډه دوه وخته ډوډۍ نشي پیدا کولای، د خپلو بچو غوښې او هډوکې په څادرونو کې راټولوي هرتیږي او بوټي ته مو د وینو بوي راځي، والي صاحب ته په دې فیسبوکي چاپلوسانو مه غولطېږه، ننګرهاریان له تا نه پارکونه نه غواړي، له تا اساسي او بنیادي کارونه غواړي، فقر د کفر دروازه ده، د دې غم وخوره بس دی والي صاحب نور نو په ژمي کې واوره خرخول، بند کړه، والي صاحب زه د یو دردمن افغان په توګه دا خبرې د زړه له تله درته کوم، خپله غاړه خلاصوم، که زما لیکنې ته په ککړو سیاسي عینکو کې ونه ګورې، نو دا به دې ډېره په خیر وي، یوه کوم بله رایادېږي په یو واده کې د دسترخوان په سر یو چاته غږ چې فلانیه لږه ښوروا راوړه هغه ورته وویل چې ما سره د اوبو واک دی، که تږی شوی یې چې ډک جام درکړم یو بل ته غږ چې لږه وچه ډوډۍ راوړه هغه ورته وویل چې زه یې سترې مشي ته ودرولی یم، که مې درسره نه وي کړې چې بیا درغاړې وځم، والي صاحب که ته هم اوبو او سترې مشي ته ولاړ یې نو دا وړی به شړی نه شي، د یو افغان په صفت درته وایم که زما لس پورته یاد شوي کارونو ته دې اراده وي نو ډېر ښه او که دې نه وي نو تر تا وړاندې څلورو نورو والیانو هم استعفاګانې ورکړې.

که همدا حالت په همدې شکل پاتې شي، نو لرې نه ده چې ننګرهاریان به د پنځم والي د استعفاء غږ ډېر ژر واوري، ښاغلی والي صاحب اورېدلي مې دي چې دوه ماسترۍ هم لرې، په دې هم ډېر خوښ شوم ځکه چې زه هم ماسترانو سره ډېره مینه لرم او د ماسټر علي حیدر دا ټپه مې ډېره خوښه ده:

**په زړه یوه، په خوله یې بله**
**په دوه رنګۍ د جانان ډېر زیات خفه یمه**

# پناه غوښتونکي دې نه شړل کېږي!

په کابل کې د میلادالنبي پر غونډه تر خونړي برید وروسته هېواد ته د افغان پناه غوښتونکیو د بېرته ستنولو د لړۍ درولو غوښتنه شوې...

د یادونې ده چې په یاد برید کې شاوخوا ۵۵ تنه شهیدان شوي ول. تر دې خونړي برید وروسته د بشري حقونو فعالانو ټینګار کړی چې افغانستان ته دې د پناه غوښتونکیو د بېرته لېږلو لړۍ ژر تر ژره ودرول شي...

رپوټونه وايي، د بښنې نړیوال سازمان ویلي، چې وروستي ترهګریز برید وروسته یو ځل بیا د پناه غوښتونکیو په اړه د اروپایي هېوادونو دا بې مسوولیتي غندلې چې وايي، افغانستان د بېرته ستنول کېدونکیو پناه غوښتونکیو لپاره خوندي هېواد دی...

په کابل کې یاد برید د بېلابېلو هېوادونو ولسمشرانو او د بشري حقونو پلویانو غندلی او د شهیدانو او خواخوږي ښودلې... زخمیانو له کورنیو سره ژوره




## نه به وئ خبر...؟!



د نړۍ تر ټولو خطرناکه ونه «مانسینلا» نومېږي، چې تر کوبرا ماره زهرجنه ګڼلی شي. که چېرې یې انسان له مېوې یا تنې سره لاس ولګوي، انسان سخت ټپي کوي...!



دغه وړوکی الوتونکي چې موږ یې بادخورک «هوا خوړونکی» بولو، په اسمان کې تر لسو میاشتو بې له کېناستلو الوتلی شي...!



ښکلي مېرمنې د مېړونو د ژر مړه کېدنګ لامل کېږي... څېړنې وايي، ښکلي مېرمن لرونکی مېړه ژر غوسه کېږي، په غیرت کې راځي، د وینې فشار یې ژر لوړېږي او پایله یې د مېړه په مړینه تمامېږي...



اصلاً ښځه چې څومره ښکلې وي، مېړه ژر مري...!

په المان کې د کورونو د مخ واوره پاکول، د کورونو والو دنده ده، که چېرې یې د کور د مخ پر کنګل څوک ولوېد، زخمي شو، درملنه او نور ټول مسوولیت یې د کور وال پر غاړه دی...!



د نړۍ درې سلمه ماشومان په امریکا کې اوسېږي! نو ځکه د نړۍ ۴۰ سلمه د ماشومانو لوبتوکي د امریکایانو لخوا پېرل کېږي...!



په لندن کې یو پلورځی د انسانانو اوښکي پلوري! پدې پلورځي کې د اوښکو بېلابېل ډولونه موندل شي... له غمه بهېدلې اوښکې، پر خوشحالی تویې شوې اوښکې، په غوسه کې له سترګو څڅېدلې اوښکې او د پیاز پرېکولو پر مهال له سترګو څڅېدلې اوښکې له جلا جلا ترېو والي سره پېرل کېدای شي...!



T- Shirt پر ۱۹۰۴ز کال د څرګانو لپاره وګنډل شو او لامل یې دا و چې مجردانو نشوای کړای د کمیس لوېدلې تنۍ وګنډي...!



په ۱۹۹۸ز کال، یوه ۱۵ کلن هېکر، جانه‌تن جېمز، د امریکا د فضایي څېړنو مرکز «ناسا» کمپیوټرونه هېک او ۲۱ ورځې یې ددې اداری کارونه ګډوډ کړل... پدې پسې یې د امریکا د دفاع وزارت «پېنټاګون» کمپیوټري هم هېک کړې... جانه‌تن جېمز په ۲۰۰۸ز کال په مرموز ډول مړ او د مړینې لامل یې ځانوژنه وښودل شوه...!

**سېمسونګ Samsung :**

## کارکوونکي مو په سرطان اخته شوي...

د جنوبي کوریا د ګرځند ټلیفونونو نړیوال شرکت سېمسونګ منلې چې کارکوونکي یې په سرطان ناروغۍ اخته شوي...

تېره ورځ د یاد شرکت مشر کېم کې نام د یوې خبري ناستې پر مهال ومنله چې د شرکت کارکوونکي یې د کار پر مهال د څینو کېمیاوي موادو د کاروَنګ له کبله په سرطان او څینو نورو وژونکیو ناروغیو اخته شوي... د شرکت مشر د ځپلیو کسانو له کورنیو بښنه وغوښته او ویې ویل، چې سېمسونګ شرکت تیار دی د ناروغو او مړو شویو کارکوونکیو کورنیو ته هر ډول تاوان چې دوی غواړي ورکړي...

کېم کې نام زیاته کړه، تر دې دمه یې د شرکت ۲۴۰ کارکوونکي د کیمیاوي توکیو د کاروَنګ له کبله زیانمن شوي دی، چې ۱۰۰ تنو یې د وینې د سرطان له کبله ژوند له لاسه ورکړی دی...



# «مثبت ژوند»

**خوک چې مثبت فکر کوي، مثبت ژوند کړای شي، خوک چې مثبت فکر کوي، د وړوکي لاسته راوړني او واړه بري لپاره د ستر بایلات پلوی نه وي او هر خوک چې د واړه بري لپاره ستر بایلات ته غاړه ږدي، مثبت ژوند نه کوي بلکې تاواني او بایلونکی حسابلی شي...!**




**سپین سهار**

د ډاکټر Norman Vincent Peale «مثبت ژوند» کتاب میراحمد یاد ژباړلی دی.
د کتاب اصلي نوم «The power of positive living » دی خو ښاغلي یاد یې په پښتو ژباړه «مثبت ژوند» نوم ایښی دی.
د کتاب انګرېزي نسخه لومړی په ۱۹۹۰ کال کې خپره شوه چې روسته بیا ډېرځله چاپ او ګڼو ژبو ته وژباړل شوه.
ډاکټر نورمن تر ډېره «د مثبت فکر کولو د ځواک» په نوم کتاب مشهور کړی دی چې په ۱۹۵۰ مه لسیزه کې یې د مینه‌والو او مخالفینو تر منځ ګڼې بحثونه راپورته شول.
په ډاکټر نورمن تر ټولو سخت انتقاد دا و چې په کتاب کې یې ډېری کیسې او ویناوې پوهنیز بنسټ نلري. مګر اوسنی ټولنساپوهنه مني چې د نورمن کتابونه که په خیالي کیسو او ویناوو ولاړ هم وي بیا هم له علمي موندنو سره ټکر نلري بلکې له خلکو سره مرسته کوي چې د فکر په بدلولو سره خپل ژوند بدل کړي.
مثبت ژوند اوس د نړۍ له ډېرو لوستل کېدونکیو کتابونو څخه یو دی چې د لوستونکیو نظریاتو ته په پام سړی ویلای شي چې د ډېرو خلکو ژوندېنه یې بدله کړې، منفي فکرونه یې له ذهن څخه لرې شوي، مثبت فکر یې کړی او ژوند یې له خوشحالیو او نېکمرغیو ډک شوی دی.
«مثبت ژوند» کتاب له هغو کتابونو څخه شمېرل کېږي چې لوستل یې پر انسان نېغ په نېغه اغېز کوي او خپلو تېروتنو ته یې متوجه کوي.
ډاکټر نورمن پدې کتاب کې د خپلو ناروغانو کیسې کړې چې څه ډول یې ژوند ور بدل کړی او څه ور یې په یوه کلمه ژوند له منفي څخه مثبت هغه ته اوښتی دی.
پدې کتاب کې د یوې بېوزله سیمې د هغې ښوونکې کیسه هم شته چې هره ورځ به یې خپلو زده کوونکیو ته ویل: «ماتې ته مو نه پرېږدم...!».
که موږ و تاسې دا کتاب ولولو او «ماتې ته مو نه پرېږدم» هره ورځ خپلو کشرانو ته ووایو، د هغوی ژوند بنه به ور بدله کاندو، هغوی به پخپل ځان، خپلو وړتیاوو او پر تاسې باور ته هڅېدلي وي او هر چا چې پخپل ځان، خپلو وړتیاوو او شاوخوا خلکو باور وکړ، بری یې وموند او د ژوند کولو بڼه یې ښه لوري ته سیده شوه...
ما پر فیسباکه هم ددې کتاب ځیني په زړه پورې برخې خپرې کړې او هر یو ملګری، کتاب لوستونکی ملګری، د کتاب لوستلو مینه وال ملګری هڅوم چې «مثبت ژوند» کتاب هرومرو ولولي او له لوستلو وروسته دې خپله تجربه له نورو ملګریو سره شریکه کاندي...
د هغه بدلون کیسه دې وکړي چې د دې کتاب لوستلو وروسته یې پخپل ځان کې محسوس کړی ده.
دا کتاب چې هر چا ولوست، په اوږده غم و خپګان به بیا لنډه خوشحالي را نیول، تاواني را نیول ورته ښکاري...!
او ددې کتاب لیکوال دا هم وايي:
که د یوه کار په کولو کې پوهېږئ چې له اور سره لوبېږئ، خو بیا هم نه ترې درېږئ، دېته په لوړ بایلات وړه لاسته راوړنه ویل کېږي چې دا کار د مثبت فکره انسان چار نشي ګڼل کېدای...!
ډاکټر نورمن مثبت ژوند هغه چار ته وايي چې پایله یې تلپاتې پښېماني نه وي، بلکې پر ډار و وېره بری وي، د ډار او ستونزو لپاره حللارې ولري او داسې څه ونه لري چې که نور ترې خبر شول، دده لپاره به د یوې سترې بدنامۍ لامل شي...!
خوک چې مثبت فکر کوي، مثبت ژوند کړای شي، خوک چې مثبت فکر کوي، د وړوکي لاسته راوړنې او واړه بري لپاره د ستر بایلات پلوی نه وي او هر خوک چې د واړه بري لپاره ستر بایلات ته غاړه ږدي، مثبت ژوند نه کوي بلکې تاواني او بایلونکی حسابلی شي...!
دغه راز له دې کتاب څخه د نورو په زړونو کې د ځای موندلو هنر زده کولای شو. د نورو کسانو را خپلول د مثبت ژوند لویه برخه جوړوي... خو د کتاب لیکوال وايي، کله مو چې یو خوک را خپل کړ، هغه بیا په ډېر ستر قیمت هم له لاسه مه ورکوئ، دا کار پخپل ځان ستاسې باور زیاتولی او راښکون مو ډېرولی شي...!
«مثبت ژوند» کتاب فکر، کار او زده کړه، بري ته د رسېدن تر ټولو ډاډمنې لارې ښيي...!
خوک چې ښه فکر کړای شي، هغه ښه ژوند کړای شي، ښې زده کړې کړای شي او تر نورو وړاندې د بري لارې موندای شي...!
پدې کتاب کې لیکوال، د خپل یوه پوه ملګري خبرې داسې را اخلي:
د هر چا فکر د هغه خپله فابریکه ده، خام مواد د هغه په خوښه ورننوځي او د هغه په خوښه ډېزاین شوی پوخ تولید ترې راوځي...!
ستاسې د ذهن فابریکه چې تاسې یې پخپله مالک یاست، ستاسې له مدیریت او ستاسې له خوښې پرته هېڅډول فعالیت نشي کړای، پدې فابریکه کې چې هر څه کېږي، ستاسې په خوښه به کېږي، ستاسې په خوښه ډېزاین شوی تولید به نورو ته وړاندې کېږي...!
دغه راز وايي، پخپل ځان بری تر ټولو غوره لاسته راوړنه ده... خوک چې پخپل ځان واکمن شوی، په ډېرو واکمن شوی، بري ته رسېدلی او د ښه فکر لار یې موندلې...!
د «مثبت ژوند» کتاب لیکوال ډاکټر نورمن وینسټ پیل په نړۍ کې تر ټولو ښایسته او خوندور حس، پر ځان د برلاسۍ حس ګڼي...! چې ددې کتاب تر لوستلو وروسته به تاسې هم همدغه خوندور حس ولرئ...!
ددې کتاب له لوستلو وروسته لوستونکی پخپل ځان د برلاسۍ حس ښه ترا کړای شي، له خپله ځانه راوتی شي، پخپلو وړتیاوو پوهېدای شي او نورو پرېوتو ته د را پورته کوَنګ لاس ورکوای شي...!
مثبت ژوند، خپل ژوند و روغتیا ته د پاملرنې په اړه هم ډېر څه لري، چې لوستل به یې خورا ډېر ګټور وي... د کتاب لیکوال وايي، ډېره بوختیا د مثبت ژوند په مخ کې تر ټولو ستر خنډ دی، کله کله انسان دومره بوخت شي چې خپل ځان و روغتیا ته یې ایله هله ور پام شي چې د مخ ګل یې خزان ووهي... بیا نو اوبه له ورخه تېرې وي او ستونزمنه به وي چې ځان هاغسې روغ کاندي لکه پخوا چې و، هله بیا انسان پوی شي چې د ژوند ارزښتناکه برخه یې په بېغورۍ کې تېره کړې او ژوند په بېغورۍ نه کېږي... توجه غواړي، وخت غواړي او هر وخت بې دلیله خوشحالي غواړي...!
دلته به د پاولو کویلو دا خبره هم یاده کړو چې:
انتظار پرېږدئ! ځکه ژوند ستاسې له فکره ډېر تېز روان دی تېرېږي...!
نو چې انتظار ناشونی دی، د ژوند د ساعت ستنه نشو درولی، نو بیا یې ولې د ښه تېرولو لارې چارې ونه مومو...!
د ژوند د ښې بڼې د زده کوَنګ لپاره «مثبت ژوند» کتاب هرومرو ولولئ، نور ترې خبر کاندئ او خپلې تجربې مو له موږ سره شریکې کړئ...!
**مثبت ژوند کتاب په کابل کې د دانش خپرندویې ټولنې له کتابپلورځیو تر لاسلی شئ...!**


**اوربند ستاسې تجارتي اعلانونه په وړ بیه خپروي او تر ډېرو ځایونو یې رسوي**

# اسد دانش مطبعه

**DIGITAL | OFFSET**

## تاسې اراده وکړئ، موږ به یې چاپ کړو...!

- که غواړئ کتاب مو په سټندرډ او ښکلې بڼه چاپ شي؛
- که غواړئ کتاب او هره بله خپرونه مو په کره او معیاري ژبه چاپ شي؛
- که غواړئ کتابونه مو بې تېروتنو چاپ شي؛
- که غواړئ چاپي خپرونې مو د ډېرو د هرکلي وړ شي؛
- که غواړئ چاپونه مو ښکلي او په وړ بیه وشي؛
- که غواړئ سوداګري مو وده وکړي؛
- که غواړئ سوداګریزې خبرتیاوې مو زړه راښکونکې او د هرکلي وړ شي؛

نو؛
د دانش خپرندویې ټولنې له تخنیکي څانګې (اسد دانش مطبعې) سره په اړیکه کې شئ...



سالنګ واټ، انحصارات، د پخوانی ملي سېنما څنګ ته، دانش کتابپلورځی
ډیجیټل: 0783835153 مطبعه: 0700449298
برېښلیکونه: spinsahaar@gmail.com | danishdigital2020@gmail.com